


د کتاب ځانگړني:

- د کتاب نوم: : پرتلیزي رسنۍ
- مؤلف :: استاد نوراحمد قران مل
- خپرندوی :: غریبک کتابتون «کندهار»
- دخپروني لړ: : ۱۵ سم

---

- چاپي لگښت: : محمدالله زنداني «بابی»
- چاپ شمیر :: ۵۰۰توکه
- د تالیف کال :: ۱۳۹۶لمریز
- دچاپ کال :: ۱۴۰۰ل

یادښت

**دباغوان په چل خطانوزې نهاله**
**څوک چې درکاندي اوبه ثمر دي غواړي**

# پر تليزي رسنۍ

پـر تليـزي رسـنۍ يـو لــه هغــه اثـارو څخــه ده ،چــي دليكـوال لـه خـوا دافغانسـتان تـاريخ ترقـۍ ، پـاڼو تـه دچـاپي ، ږغيـزو ((دثـور كودتـا)) او انځـوريزي رسـنۍ پـه خوځښـت او پــه رانغـتــه كېـدو يــې رڼـا اچـولې ده ، چــي درســنيو كــي دا خوځښت لـه ځانـه سره تحولات مـل را منځتـه كړي او يـايې هـم پـه فرهنګـي برخـه كـي پـر عامـه اذهـانو ډېـره اغېـزه ښـندلې ده او دوخـت نظامونـه يـې دعـام ولـس پـه مـټ را مختـه او ليـري كـړي دي ، ليكـوال دثـور دكودتـاه پـر مهـال دوخـت دنظـامونو ، او دهمـــدې نظـــامونو پرضـــد دمقاومـــت او اســـلامي نظـــام دملاتـړو ، شـعارونه ، فكـري سـمتونه ، ايـډيولوژي پـه منظـوم او شـعري بڼـه دمختلفـو شـاعرانو لـه قولـه تـر سيم كـړي دي ، ليكـوال اثـر دفرهنـګ لـه تعريفـه او ډولونـو پيـل كـړی او پـه شـلمه پېـړۍ كــي پـر افغـان فرهنګــي پـر مسـيرونو رڼـا اچـولې ده ، ليكـوال داثـر پـه چمتـو كولـو پـوره زيـار ايسـتلی دی او يـو ځـل بيـايې دلوسـتونكو لپـاره داسـي څـه وړانـدي كـړي ،چـي پـه لوسـتلو ارزي . خـدای دي دليكــوال پـر قلـم نـور هـم بركـت كښــېږدي ، چـي خپلـو هيـواد والـو تـه پـه راتلـونكي كـي دلوستلو لپاره ډېر څه وړاندي كړي.

په درنښت

استاد احمد ظاهر ولي

د كندهار پوهنتون دښووني او روزني پوهنځی ريس

# د پیل خبري

الحمد لله وکفی والسلام علي عباده الذين صطفی!

اما بعد!          فاعوذبالله من الشيطن الرجيم ط

بسم الله الرحمن الرحيم ط

درنو لوستونکو!

خوښ یم، چې ددې ټولګي په وړاندې کېدو سره خپل دزړه خواله تاسې درنو ته کوم.

ډېر وخت داسې پېښېږي، چې دیوې پېښې محدودیت دهغې پېښې پرمهال وي او په تېرېدو سره یې پېښه دخلګو له ذهنه وزي. ځنې وخت بیا داسې کېږي، چې پېښه دخپل جذابیت په لرلو سره تر ډېره دخلګو دزړونو دحجرو دننه دیو روښان څراغ غوندې خپله رڼا بله ساتي، خپله خلوتګاه دې ته نه پرېږدي، چې دهغې په نه موجوددیت دې بې رڼا وي.

ددې خبري په تړاو که وویل سي، چې په افغانستان کې درسنیو بروز او ظهور یوه اړخ ته او هغوئ ته اړتیا او دضرورت پر مهال یې کارېدنه خپل ځانته مثبت او منفي مسیرونه پیدا کوي، چې پر وخت اوزمان یې افغان فرهنګ ځلېدو او ېبلېدو ته پرېښی او یا یې نه دی پرېښی.

پرهمدې بنسټ دهغوی دراپېژندلو وعلتونو ته مومجبور وي، ځکه نو ددې وړې ټولګي دلیکنې په اړوند

ځيني علتونه ول ، چي بايد زمونږ دهيواد لوېشت ــ لوېشت په غېږه كي دپرتو ډېرو وشاته دتاريخي بېدو سوو حماسو په شان به مو له سترګو الونيا سوي وي را وسپړو .

لكه نن چي زمونږ ځوان او راتلونكي نسلونه خپل دتېر تاريخ لوى عظمت دپرديو ليكوالو په تحقيقاتي ليدلورو كي تپاكي او يايې ګوري .

په افغانستان كي دثور انقلابي كودتاه كه پخپل اړخ كي له ځانه سياسي اهداف درلودل او له سوسياليستي اندازه څخه يې هرڅه ته كتل . په وړاندي يې دمقاومت او اسلامي نظام دراتګ په هيله ولسونو وغبرګون ته ملاوتړله ، دا ډول ډېرو نورو سوالونو ته دجواب موندلو اړتيا وي يې وزېږولې ، خو بلي خواته يې په رومانتيك او شاعرانه اړخ دپام وړ بدلون را ووست ، عاشقانه ، خيالي څه يې په حماسي او له درد په ډك ادب سره واړول .

په دې ادب كي يوه فرهنګي برخه ده ، چي درسنيو په ږغيز ،انځوريز ،ويډيويي او چاپي بڼه سوالونو ته جواب وايه سي .كېداى سي دا ليكنه ډېري پوښتني جواب نه كړاى سي ، خو ددې سره ــ سره به شاهده وي ، چي ديوې كيلي په توګه يې لوستونكي دراتلونكي لپاره ديوه ماخذ په توګه وكاروي .

دا خبره باید وسي ، چې ښاغلي فضل محمد ((پنهان)) دکندهار دعالي دارالمعلمین پخواني استاد ، د ((په افغانستان کې ژورنالیزم)) په نوم یوبل ګټور کتاب په ډېرو لنډو کلونو کې چاپ ته سپارلی دی ، چې هڅه و تر ډېره دموجوده اتیایمي لمریزي لسیزي درسنیو اړوند معلومات په کښي را وړاندي سوي دي ، چې پخپل ځای کي یو ډېر پر ځای کړنه سوې ده ، خو ددې ټولګي مواد دنوموړي کتاب تر خپرېدو مخکي را ټول سوي دي ، که زه دښاغلي پنهان صاحب په نوموړي خپاره سوي اثر خبروای ،په ډېر اخلاص به مي دا را غونډ سوي څه ورته جار کړي وای .

ددې لیکنې محتویات تېر ۳۰کلن او ۴۰کلن جریان په برکي نیسي او موږ ځوانانو ته دتېري بحراني لړۍ مطبوعاتي مدرکونه په لاس راکوي .

په دې هیله،چې تر پایه یې ولولی،تنده مو په خړوبه سي او که احیاناً کومه تېروتنه موجوده وه،دراتلونکي چاپ په موخه یې ستاسي ترمیم طلبه مشورو ته په تمه یو.

په درنښت
ن قران مل
غریبک کتابتون کندهار

# فرهنګ

## دفرهنګ لغوي تعریف :

د ډاکټر معین په فارسي قاموس دایران چاپ د ((ادب ، نفس ، دانش ، علم ، معرفت ، دادابو او رسومو مجموعه ، دعلومو مجموعه ، او د یوه خاص تېر هنرونه او دودونه ))بللی دی . زاهد پښتو پښتو سیند هم په همدې لغوي مفهوم را وړی دی .

## اصطلاحي ډول يې :

دفردي او ټولنیزو کړو وړو هغه رنګ ، چې نورو ته انګېرنه ورکوي او یا دنورو انګېرنه ځانته را جلبوي .
دفرهنګ په نوم په نوم بلل کېږي .

په فارسي کې فرهنګ ، په انګلیسي کې کلچر ، په عربي کې عنعنه او په پښتو کې ورته ((دود )) ویل سوی دی

دفرهنګ کلمه په ګرامري جوړښت کې د یوه تګمیم څخه جوړه سوې ده . دا یوه داسي کلمه ده ، دخپل مفهوم په افاده کېدو سره دهری لویي ژبي په لړ کي ځانته لغوي اصطلاح لري د فرهنګ ډولونه :

. دبېلابېلو فکري طرزونو کړني او رنګونه ،چي پرخپل وخت او ځای کي ځانته خاصي ځانګړني ولري .
داډول فرهنګونه پر دوو عمده برخو وېشله کېږي:

- کـــورنۍ ، ســـیمه یــز ، سیاســـي ، عقیـــدتي ، علمـــي ،کلتـــوري ، فولکلـــوري ، اولمپیـــایي ،نظامي فردي ،ټولنیز او ........دي .
- اســتثماري ، اســتعماري مــوقتي او دایمــي ، دا دوهـــم ډول فرهنګونـــه عمومـــاً دهغـــو هیوادونــو لخــوا لــه یــوه ځایــه وبــل ځــای تــه لیــږدول کیږي،چـــي غـــواړي ســـیمي پـــه ســـتراتیژیکي او سیاســـي ډول تـــر خپـــل نفـــوذ لاندي راولي :

دلتــه مورږ فرهنــګ هغــه اړخ تــر لیکنــي لانــدي نیســو ، چــي پــه پیغــامي اورســنیز ډول زموږ هیــواد پــه معاصــر سیاســي فرهنـګ پـوري اړه لـري او پـه کُلـي ډول دهغـوی پـه رسـولو کـي یـې پوره ونډه درلودلي ده .

## ملي فرهنګ او دباندني یرغلیز کلتورونه

دنړیوالوملتونـــو یـــوه او بـــل تـــه ورپیژندنـــه ، دهغـــو ملتونـو پـه فرهنګونـو او دهغـوی پـه انتقـال کښـي صـورت لـري ، همـدا لامـل دی ، چـي هـر ملـت پـه هـر پیـر کښـي دخپـل فرهنـګ او کلتور لرونکی بلل سویدی .

هـر هغـه ملـت ، چـي ځانتـه یـې ځاکلي فرهنګـي معیـار نـه دی درلـودلی او یـا دبـل بیګانـه فرهنـګ دیرغـل پـه وړانـدي یـې خپـل پخـوانی اصـل لـه لاسـه ورکـړی دی ، پایلـه یـې پـردي

سوېده ، ورو ورو یې خپل ملي عظمت او ملي هویت له لاسه ورکړی دی او یا بلکل له منځه تللی دی ، خو ځینې زمونږ دملت غوندي دنړیوالو ملتي فرهنګونو په ډله کي تر دې دمه دمناسب نفوذ په درلودلو سره خپل فرهنګي هویت ژوندی ساتلی دی .

دمعاصرو نړیوالو فرهنګونو په لړ کښې دځینو روایاتو پر بنسټ افغان فرهنګ هډو ۵۵۰۰ کلن تاریخي قدامت ځانته لري .[1] چې دوخت او زمان دحکومتونو په نوبت او له منځه تلو کي دخپلو دودونو او رواجونو په درلودلو څه ناڅه مغایرتونه یې په وجود راوړي .

دزرګونو کلونو دتېرېدو په جریان کي دا سیمه پخپل منځ کښې داووښتونو نو تر څنګ دپردیو امپراطوریو تر مستقیم او غیر مستقیم جغ لاندي راغلې ده .

دهر نوبت په راتګ سره دزاړه تپل سوي فرهنګ زاړه څه یې له ځانه څخه لیري کړیدي ، اما پر دې اساس ، چې ددې سیمي دکلتور زړه ریښه بیا یې هم دنورو پردیو کلتورونو دیرغل په وړاندي خپل موقف تر اوسه له لاسه نه دی ورکړي . او ژوندی پیايي او په شرقي کلاسیک اړخ خپل دژوندانه لړۍ ته جریان ورکوي .

---

1وګ (( دافغانستان مختصر تاریخ ))

پلرنــۍ عنعنـــې ، ټولنیزژونـــد ، جرګییـــز مجـــالس ، کوچیـــانی ژونــد ، ملــي لبـــاس او ... یــې دخپلــو ملــي غنــا وو دســاتني لاملونــه ګرځېــدلي دي . او دنړیوالــو ســیمزو فرهنګونــو پــه ټلوالــه کــي مســتقل او ازاد ځلیــدلی دی . خپــل فرهنګــي هویت یــې ثابت کړیدی چي دبغـلان ((سـمنګان)) لـه آتـش کـدو نیـولې ، دبامیـانو او ای خـانم پـر بتکـدو لـه هغـو نـه نیـولې دبلـخ تـر آبـدو ، لـه هغـو نـه هـم نیـولې دجـلال کـوټ هـډې تـر فـارم او کنــدهار تــر منــډیګک ، کابــل چلــتن ، زابــل تــر تــابولان ، دهلمنــد دبســت او سیســتان لــه کلاګــانو او فوشــنج تــر تــاریخ نخښو پوري .

همـدا شـان پـه کتبـي ډول دروزګـان لـه خطـي ډبرلیـک نــه نیــولې دســلیمان مــاکو تــر تــذکرة الاولیــا بیــا د محمــد هوتــک بــن داؤد تــر پټــي خزانــې پــوري ، چــي ددې ســیمي تاریخي او ادبي فرهنګي نخښي یې ځلېږي .

پــه ځینــو مــواردو کــي دخپلــو ځینــو بــې بــاکو او ځــان خوښــو بچیــو لــه رد او ایــراد ســره مــخ ســوی دی ، نــه یــوازي دا ،چــي دملــي فرهنــګ دســپکتیا لپــاره یــې عوامــل لټــولي دي ، ور سره تـر ځنـګ یـې دواکـداریو پـر مهـال پـه خپلـو محلونـو کـي دتـــاج او محـــل شـــاهانه مشـــران دیـــادوني وړ دي ؛ چـــي دزرګونــو کلونــو پــه تېریــدو ســره دخپــل فرهنــګ پراختیــا او بـډاینې لپــاره کــار نــه دی کــړی ؛یــوازې یــې پــه دربــار ونــو کــي

دمداحو ،قریحو طرزونه ژوندي ساتلي ، نور یې کوم څرک نه
تر سترګو کیږي.

یوازي دامیر کروړ جهان پهلوان ، لودي پښتو، هوتکي دربار ، امیر شیرعلي خان ، وزیر محمد ګل خان مومند او امین په دربارونو کې ساتنه او دملي ژبي په پیاوړتیا کې تپ او تلاښ دیادوني وړ دی .

ددې ملت د ګڼ مبشتي ژبې او د هیواد دډېرکي ولس دژبني پانګي بډاینه دملي هویت دتثبیت په موخه له خپل ملاتړه برخمنه کړیده .

تر دې را په دې خوا ،چې کودتایي اړودوړونه را منځته سوي دي ،بیا ،خو یې په انقلابي جریان کې داکثریت فرهنګ وارثین دې ته نه دي فارغ سوي ، چې له هره اړخه یې ویالي ، بلکه خپله یې هم له ځانه لاره ورکه کړیده ، چې په ځینو مواردو کې دو مره بې معنې تحلیلونه او تینګارونه دخولو تر کومو را ایستلي دي ، چې خپله یې دحل لاره نسي موندلای ، افغانان دخپلو مسئولیتونو په رڼا کې بیا هم ددې مسؤل دي ؛تر څو وکولای سي دخپل فرهنګي او کلتوري میراثونو ساتندوی و اوسي .

بحرانونه او دولتي نوښتونه دنظامي تغیراتو تر څنګ نور په دولتي اوملي اړتیاوو پوري پیوند هر څه له ځانه سره په نوي پیوند او پخواني رنګ له راتلونکي سره وتړي ،

چې دا پخپله دنوو حکومتونو په ستراتېژیو ګانو کې تعمیلي
ټکي او دپالسیو اجزاوي جوړوي .

## په شلمه پېړۍ کې افغان فرهنګي مسیرونه

عموماً دا فرهنګي او کلتوري مسیرونه پر دوو عمده برخو وېشو .یو ډول یې هغه فرهنګونه، چې په سیمو ته پاته کېدونکي او بل ډول یې هغه مسیرونه ، چې ډېر ژر له منځ تلونکي وي .

هرهغه فرهنګي انقلاب ، چې دخلګو دغوښتنو په رڼا کې یې خلك په مغزونو کې دجذب ظرفیت ولري او هملته ځای ونیسي . له ځانه سره عقیدتي یا مثبت تیوریکي رنګ او ډول ولري . تر ډېره پاته کېږي یا په بله معنی په هیڅ ګون دمغز له خانقا څخه نه وزي .

له دغو پدیدو څخه داسلام د مقدس دین منلی سوی فرهنګ دی . دا فرهنګ دخپل معقولیت ، عینیت ، حقیقت او موقعیت پر بنسټ زموږ له سیمي نه پرشا تلونکی دی ،چې دتیوري او عمل یو ښه ساری یې بللای او عملي کولای یې سو .

هغه فرهنګونه ، چې دتوندو احساساتو او تشو شعارونو پر بنیاد دي ،که څه هم په ټولنه کې خپرېدل یې ډېر ژر خپرېدونکي وي ، خلك ډېر ژر ځیني متاثر کېږي ، ولې دتلك امکان یې هم له ټولني څخه دټولېدو پر مهال همداډول ژر صورت نیسي .

دثـور دکوتـايي تغيـر پـه لـړ کـي، دهغـه ځخـه ځـه مخکـي
او ځـه وروسـتـه شـعاري او احساسـاتي مسـائل را منځتـه سـول .
چي دفرهنګـي لـړۍ يـو برخـه يـې تشـکيلوله . دا بايـد وويـل سـي
: کـه نومـوړې کودتـاه نـه واى تـر سـره سـوې .پـه چپـي او راسـتـه
اړخونـو کـي دملـت دسـر نوشـت دتعـين پـه اړونـد احساسـات نـه
واى را پاريـدلي . ډيـر وخـت بـه بيـا پـه افغـانو حماسـو کـي
دکلاسـيکو منظومـاتو پيـروي کيـدلاى ، ولـي دثـور انقـلاب
((کودتـا)) او لـه هغـه ځخـه ضـد دملـت او اسـلامي عقيـدې پـالني
او وياړني منظمه روحيه يې په واړه ډول موجوده وه .
دې تحـرک پيـاوړې کـړل دشـاهي نظـام لـه ملـي سـروده
بيـا جمهـوري نظـام تـر جمهـوري سـروده را وروسـتـه ډيـر ځـه پـه
مؤقـت ډول را نـوي سـول ، چـي لـړى يـې پرمحتـوى او وروسـتـه
يـې شـعاري بڼـه غـوره کـړه. دې افکـارو تـر پنځلسـو کلنـو پـوري
دوام وموند ، وروسته يې کومه بقا ونه درلوده .

ځپځپانـده حالـت دهيـواد پـه مطبوعـاتي برخـه کـي رامنځتـه
سـو يـوازي دثـور انقـلاب دراپيـل ځخـه تيـر پـنځلس کلونـه، وروسـتـه د
۱۳۷۱ دثـور مياشـتي د ۸ نيټـې وروسـتـه چـي دمجاهـد ملـت ارمـانونو
تـه رسـيدو شـيبه وه ، عوضـا يـې بـې ثبـاتي رامنځتـه او دهيـواد دنـورو
منـافعو تـر ځنـګ فرهنګـي اوضـاع ګـډوډه او هرځـه د نـه معيـار پـه تلـه
وتلل سول .
دا کـاري سـاحه نـورهم مـخ پـر پراخيـدو وه ، چـي داسـتاد ربـاني
پـه مشـرۍ حکومـت چـي دمجاهـدينو دحکومـت پـه نـوم وو، تـر

سقوط وروسته د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان واک خپل کړ، دا مهال د هیواد څخه د باندې د خپرنیزو رسنیو پرته چې د وخت د حکومت په کنترول کې نه وې رسنۍ خاموشې سوې. د غرب پلوه دموکراسۍ په راتګ سره هر څه له صفره پیل او مطبوعاتي برخې دافراط او تفریط تر دومره پړاوه ځان ورساوه چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساري نه لیده کیږي.

ددې کتاب په لیکو کې مو په نمونه ئي ډول د افغان فرهنګ بهیر وشالید ته مورا بولم. هیله ده تنده مو په خړوبه او مینه مو په ماته سي.

نوټ: درانه محصلان به وکولای سي چې دیوه مستند ماخذ په توګه هم کار واخلي.

په درنښت
ستاسې قران مل
غریبک کتابتون کندهار

## د افغان فرهنګي بهير تاريخي پس منظر

په معاصر 'literatures'برخه کې د افغان فرهنګي بهير په مستند ډول په ۶۱۲هجري کال کې د سليمان ماکو له تذکرة الاولياءⁱ څخه د سر چينې اخيستلو را وروسته موږ په هوتکي دوره کې د پټې خزانيⁱ سندونه په لاس کې لرو ، لږ نور مو عينې د لمړي او دوهمې هجري پيړۍ تر وختونو ور رسوي او د امير کروړ جهان پهلوان له حماسه افرينه شعره مو خبروي

«زه يم زمرى پر دې نړۍ له ما اتل نسته»

په معاصره حاضره ماضي کې موږ يو بل کره مدرک د څېړنوال حبيب الله «رفيع» لخوا تر لاسه سوي اثر «اسرار الافغان»ⁱنومي اثر چې تقريباً ۴۳۰ هجري کاله پخوا کښل سوئ او په متن کې يې د پښتنو ادباؤ، فضلاؤ او پوهانو ۹۰۰ کلن تاريخي مدرکونه دي، ولې په چاپي برخه کې مو د امير شيرخان په دوره پوري اړوند د «شمس النهار» جريدې خپراوي تر څنګ همهال د افغان فيلسوف سيد جمال الدين افغان په مرسته په اروپا کې د خپرندويه جريدې «العروة الوثقى» يوه داسې اساسي بولګه بللاى، چې په اروپايي هيوادونو فرانسې او ... تر څنګ په افريقايي مصر کې د افغاني فرهنګ مؤثر مدارک خلګو ته په لاس ورکوي دا روښانه کوي چې د معاصر فرهنګي ويښتابه په برخه کې د اروپايي فرهنګ دپياوړتيا ممد افتخار هم لرو، چې دا د افغان چاپي مطبوعاتي فرهنګ پيلامې پيل بلل کيږي.

په دې کتاب د افغاني فرهنګي محتوي پر دوو عمده برخو کار سوئ، چې یوه یې په ۱۹۲۳ میلادي کال د عثماني خلافت تر سقوط وروسته دانګلیسي پراختیا غوښتني او بیا د انګلیسي استعمار تر ټولیدو وروسته د اسلامي نړۍ دسیاسي تجزیې په نتیجه کي د متحدي اسلامي نړۍ متحده کتله تر پنځوسو پر زیاتو هیوادونو وویشله سوه او د غربي مانسونیزم په کمپاین په یادو هیوادونو د کي د هیواد پالني Nationalism مفکوره غښتلې او ددغي پیاوړتیا دپر مختګ په منظور هرهیواد دخپل ملي هویت د تثبیت له پاره د سیاسي اراضي د تثبیت تر څنګ د ملي سرود او ملي ژبو مسله تر کار لاندي ونیوله، له همدې امله لوړي خبري ته په کتو موږ ددې کتاب په لړ کي پر دوو عمده فکتورونو (ملي سرودونو) او نشراتي (صوتي، تصویري، چاپي، او څپیزو) رسنیو تر کیز کوو، پیلامه یې له ملي سرودونه را پیلوو.

## دامیر امان الله خان ددورې ملي سرود (۱۳۰۶ – ۱۳۲۲) لمریز

د اماني دورې سرود دموسیقي په موجونو کي بې کلامه د ترکي موسیقکار (خالد رجب بیګ) لخوا تر تیب سوئ وو. چې د «اماني سرود» په نوم یادېدئ.

## محمد ظاهر شاه ددورې سرود(۱۳۲۲ – ۱۳۵۲) لمریز

د محمد ظاهر شاه په دوره کي د افغانستان ملي سرود د «سلام شاهي» په نامه یادې دئ متن یې په لاندي ډول دی:

ای شاهي غیور ومهربان ما
هستیم از جان مطیع شما

ما فرزندان توییم

ما فدا کار توییم

ای شاه ما

ای شاهِ ما

ای شاهِ ملت‌خواه ما

ددې ملي سرود شاعر محمد مختار او موسیقی کار یې ترکی فرخ آفندي وو.

د محمد ظاهرشاه په دوره کې د یاد سرود تر څنګ د «بیرغ» په نوم هم یو ملي شعر وو، چې خلګو او داردو منسوبینو به زمزمه کاوه:

تور سور یې هم
زرغون
ډیر یې زیات پر هرپښتون
ستا محراب ممبر نښان
لوړ دوي پر ټول جهان
اې بیرغه دافغان
تابه ساتو زیات تر ځان

د جمهوریت دوره(۱۳۵۲-۱۳۵۷)

کله چې د سردار محمد داؤد خان په مشرتابه د سپیني کودتا له لاري جمهوري نظام په افغانستان کي قایم سو. د مېډیاوو پر مخ په مطبوعاتي ارخونو کي د افغاني فرهنګ استازي توب کره سو ، په بل اړخ کي په دې دوره کي زموږ په ملي یونیفارم او کلتوري رنګ کي په ډېره سلنه غربي اثرات ور ګډ سول ، ولي د مخکني خبري پر بنسټ په زغرده مطبوعاتي فرهنګ ډېر څه له ځانه سره را وړل .

## د محمد داؤد خان ملي سرود

موږ د دې بدلون خبره بیا له ملي سروده را پیلوو او ګورو ، چې په نوموړې دوره کي ټول د جمهوریت را ټول سوي شعارونه او غوښتني د هغه نظام په سرود کي نغښتي دي .

داسرود داستاد عبدالرؤف ((بېنوا)) لخوا په ليکل سوي شعر کي دا سي را نغاړلی وو :

ثـــو چـــي دا مځکـــه اســـمان وي
ثــــو چـــــي دا جهـــاد ودان وي
ثـو چـــي ژونـــد پـــه دې جهـــان وي
ثـــو چـــي پاتـــه يـــو افغـــان وي
تــــــل بـــــه دا افغانســـــتان وي
تـــــل دوي افغـــــــان ملـــــــت
تـــــــــل دوي جمهوريـــــــــــت
تـــــل دوي ملـــــــي وحــــــدت
تـــل دوي افغـــان ملـــت ــ جمهوريـــت
تـــل دوي افغـــان ملـــت ــ جمهوريـــت

دملـــي ســـرود تـــر ســـاحې را لانـــدي د شـــاعرانه جهـــان پـــه مطبوعـــاتي فرهنـــګ كـــي ، لـــه يـــوه اړخـــه ســـوچه تـــوب نغښـــتی و، ولـــي پـــه ملـــي کلتـــور کـــي دشـــرقي او غربـــي کلتـــور راګډ بـــدل ددې لامل سول،چي دافرهنګ په نيمه ډول غربي ډوله کړی ولري .

## يو بل منظوم مثال يې :

وطنـــه ســـتا دنـــوې ژونـــد ډ يـــوه بلېـــږي
پـــــه جمهـــــوري جشـــــن دي ټولـــــه هوســـــېږي
پـــــه کـــــار نـــــامو دي تـــــارخ پـــــاڼي ځلېـــــږي
زړه داســـــيايي هـــــر افغـــــان پـــــه تانـــــازېږي

پـــردې جهـــان دې لمـــر لـــه شـــرقه پورتـــه کېـــږي
هيــــواد ستابنــــکلی بيـــــرغ دې پـــاس رپېـــږي
را نــژدې ســوي ســتا وخواتــه ســرې لمبــې وې دداښ
خدايـــه ! تـــې وکـــارې زمـــوږ لـــه لاســـه څـــه واښ
دنابغـــــه ، ســـــتر قهرمـــــان او داردو پـــــه تـــــلاښ
ديـارلس سـوه دوپنځـوس پـر شـپږ ويشـتم دجنګـاښ
پـــــر افغانــــان بانــــدې نــــوی زېـــری کېـــږي
هيـــواده ســـتا ښـــکلی بېـــرغ دې پـــاس رپېـــږي
محـــوه ســـوه هغـــه بـــدبختې جمهوريـــت ســـو تيـــار
نـوی دوران ، نـوی نظـام نـوی ،نهضـت سـو تيـار
ورک مـو لـه منځـه سـو بېلتـون يـو مـو ملـت سـو تيـار
ټـول افغانـان يـو ، يـوټبر يـو مـو اخـوت سـو تيـار
ســـتا تـــر ســـپېڅلي نامـــه هـــر يـــو قربـــانېږي
هيـــواد ســـتا ښـــکلی بېـــرغ دې پـــاس رپېـــږي
تـــاغوره کړيـــدی وځانتـــه بـــې طـــرف سياســـت
تاپـــه تـــاريخ کـــې دی ګټلـــی پـــه مېړانـــه شـــهرت
تـــــاځغلولی دی وشـــــاته د زورګيـــــرو قـــــوت
تـــاج دمشـــرق يـــې وړی نـــه دی تـــا دنـــورو منـــت
هيـــواد ســـتا ښـــکلی بيـــرغ دې پـــاس رپېـــږي
ټـــول يـــو ورک لـــه منځـــه دی تـــوپير دنســـب
يومـو هـدف ، يـو مـومرام ، يـو مـو مقصـد او مطلـب
کـه څـوک مـامور دی ، کـه بزګـر، کـه پـه لوهـار ملقـب

فـرض پـر مـوږ دهـري پيغلـي سـتا خـدمت روز وشـب
سـتا پــه چـوپړ زمــوږ دزړه غـــوټۍ غـــوړېږي
هيـــواد ســـتا ښــكلى بيـــرغ دي پـــاس رپېـــږي
چيغـــي دي تولـــه خـــوږې تـــر انګبـــين وو ، شـــكر
تـــر شـــر شـــرو دي پورتـــه بـــوى دمشـــک و عنبـــر
لكـــه كېميـــا لـــه تـــورو خـــاورو دي را وزي ســـره زر
شـــګي ، ډبـــري ، كـــانې ، واړه لعـــل و ګـــوهر
سـپيني شـيدې چـي دي پـه هـر سـيند كـي بهېږي
هيـــواد ستاښـــكلى بېـــرغ دي پـــاس رپېـــږي
ښـــكلي دي شـــپې لكـــه ناويـــاني دلنـــوازي لـــري
عـــيش و راحـــت ښـــه نعمتونـــه پـــه څـــو رازي لـــري
ددنيـــايي ژونـــدون لپـــاره چـــاري ســـازي لـــري
انچـــه خوبـــان همـــه دارنـــد تـــه يـــې يـــوازي لـــري
جنـــت پـــر دي مځكـــه وتاتـــه ويـــل كېـــږي
هيـــواده ستاښـــكلى بېـــرغ دي پـــاس رپېـــږي
تـه لـوى نعمـت يـې رابخښـلى مـوږ تـه پـاک ذوالجـلال
جمهوريـــت دي هميشـــه وي پاينـــده اســـتقلال
ديـو رهبـر تـر سـيوري لانـدي نـر او ښـځه خوشـحال
افغانســـتانه خـــداى نـــه را ولـــي تاتـــه زوال
څـــو چـــي دنيـــا وي ســـتا زامـــن دي پـــر اوســـېږي
هيـــواده ســـتا ښـــكلى بېـــرغ دي پـــاس رپېـــږي
ښـــكلى ســـيمبول دي غـــوړولي وزرونـــه دبـــاز

مخ مو پر لور دترقۍ کي کړي مو خلك پر واز
ظلمت دی لېږي په سرو وینوسوي زرغون ته ممتاز
دین مو اسلام دی په ټټر کي مو محراب ونماز
دغه سیمبول دي زموږ له سر نه لیري کېږي
دلوی داؤد دانقلاب په پلوشو مي قسم
دګران عسکرپه سربازۍ او په برچو مي قسم
د ((زرمتي حبیب الله)) په تلوسو مي قسم
د شاعرانو داحساس په پارېدو مي قسم
چي ((ننګیالی)) لکه پتنګ تر تا چاربږي
هیواده ستا ښکلی بیرغ دي پاس رپېږي [2]

دسردار محمد داؤد خان پر جمهوري نظام دهغو یارانو برید ،چي مخکي یي همدا جمهوري نظام تر واک رسولی و؛ دهمدي نظام پخوانیو ټولو اړخونو ته دفرهنګي ثبات په شمول بل رنګ وکړ.

نوی نظام چي فکري تمایل یي کمونیستي سوسیالستي اړخ ته وو او یوازنۍ تکیه یي هم په نړۍ کي پر کمونیستي ټلواله سوه ور سره تر څنګ یي فرهنګي څه هم په شعاري بڼه سول.

پر دي بنسټ چي په افغانه ټولنه کي دهغوی دمنلو او زغملو لپاره ځای نه وو. ستونزمنه وه یا په دي معنی چي له

[2] وګړ: طلوع افغان ، ۱۳۵۲ المريز کال ۹۹ ګڼه

افغـاني او اسـلامي فرهنـګ سـره يـې پـه پـوره ډول ټكـر درلـود ، ځكـه نـو پلـي نـه سـو . حتـى تـر دې چـې هغـه وخـت ددې مفكـورې پيـــروان پـــه دې پـــوه ســـول ، داده افغانـــانو ملـــي او عقيـــدتي نورمونو سره كاملاً په ټكر كې دى هم ځيني لاس پر سول .

هغـوى پخپلـه هـم مـخ تـرې واړاوه ، دكمونيسـتي انقـلاب فرهنګـــي يـــون هـــم لـــه ځانـــه ســـره دوه معلولـــه و درلـــودل . هـــر څـومره چـې دنومـوړې مفكـورې پـه مقتـدر راس كـې خلګـو څـه لـه ځانـه سـره نـوې راوړل او وړانـدې يـې كـړل ، پـه هـم هغـه اندازه يـې اسـلامي او ملـي پـاڅون تـه پيلـوځى وركـړ ، دنظـامي غبرګون تر څنګ يې فرهنګي غبرګون هم له ځانه ودرلود .

كلـه ، دثوركودتـا دبريـا پـه تـرخ كـې پـه ډاكتـر محمـد صـادق فطـرت ((ناشـناس)) بانـدې دسـيلمان لايـق سـرودي او شعاري شعر وويل سو :

اې دازادۍ خـــاوري تاتـــه مـــو ســـلام دى
اې دنېكمرغـــۍ خـــاوري تاتـــه مـــو ســـلام دى
ســتره تيـــاره تېـــره ســـوه ســـتا پرســـر درو بانـــدي
ښـــه ســـوله چـــې تېـــره ســـتا خـــوارو بچـــو بانـــدي
هـــره تيـــاره پـــاى لـــري خلګـــو ولســـو بآنـــدي
لمـــر دعـــدالت وخـــت ســـتا پـــر جګـــو غـــرو بانـــدي
اې دازادۍ خـــاوري تاتـــه مـــو ســـلام دى
اې دنېكمرغـــۍ خـــاوري تاتـــه مـــو ســـلام دى
اوښـــكي دريابونـــه ســـوې واوښـــتي څپـــې ـــ څپـــې

ډوب يـې تورقصـرونه کـړل، ظلم يـې زرې ـــ زرې
مـاتي ککـرې سـولې واوښـتې نشـې ــ نشـې
شـين سـومرور اسـمان ښـکلي سـوې درې ــ درې
اې دازادۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی
اې دنېکمرغــۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی
لېــري توردا غونــه ســول ســتاپاکي لمــن څخــه
رنګ اخلي دښتي ګلان ستا ښـکلي ګلشـن څخه
لـوی او کـوچني لېـوان ورک سـول لـه وطـن څخـه
سـتا دزړه لمبـه راځـي ماتـه لـه خپـل تـن څخـه
اې دازادۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی
اې دنېکمرغــۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی
مـوږ بـه دنيـا جـوړه کـړو خپلـه يـو خـوږه دنيـا
پاکـه د وروری دنيـا ښـکلې او تـازه دنيـا
هلتـه بـه ژړا نـه وي هلتـه بـه غوغـا نـه وي
يـوه دخوشـحالۍ دنيـا لمـر غونـدې تـوده دنيـا
اې دازادۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی
اې دنېکمرغــۍ خــاوري تاتــه مــو ســلام دی

## مقابل ((جهادي ارخ))

اې دانقـــلاب ســـپاهي پـــام كـــوه ژوري ســـته
اې منـــزل دي اوږد منـــزل غـــرو ســـره تېكـــري ســـته
اې دانقـــلاب ســـپاهي پـــام چـــي وار خطـــا نـــه ســـي
ګـــوره لـــه ســـازش ســـره هـــيڅ كلـــه اشـــنا نـــه ســـي
ســـته نخـــري لاډېـــري دي چـــا ســـره پخـــلا نـــه ســـي
دي لاركـــي پېچـــومي دي ، غـــرو پـــه شـــان ســـخري ســـته
اې دانقـــلاب ســـپاهي پـــام كـــوه ژوري ســـته
اې منـــزل دي اوږد منـــزل غـــرو ســـره تېكـــري ســـته
داده دانقـــلاب جـــا ده وينـــي بهېـــدل غـــواړي
دا ســـپېره ميـــدان دژونـــد ځـــان خړوبـــول غـــواړي
تـــول ډګـــر پـــه ســـرو وســـتا نـــه لمبېـــدل غـــواړي
وړانـــدي لـــه ظـــالم ســـره زمـــا اوســـتا ډغـــري ســـته
اې دانقـــلاب ســـپاهي پـــام كـــوه ژوري ســـته
اې منـــزل دي اوږد منـــزل غـــرو ســـره تېكـــري ســـته
تاتـــه وايـــم ګيـــر نـــه ســـي لومـــو او دامونـــو كـــي
ګوره څوك دي شوټ نه كړي هسي په ګولونو كي
ځـــار كـــوه ځيـــرک اوســـه مـــاردې پـــه لســـتوڼو كـــي
نېـــغ ځـــه مخـــامخ درومـــه شـــاوخوا خطـــري ســـته
اې دانقـــلاب ســـپاهي پـــام كـــوه ژوري ســـته
اې منـــزل دي اوږد منـــزل غـــرو ســـره تېكـــري ســـته
نـــن چـــي دي قيـــام كـــړى مـــوټي دي قـــوت لـــري

وینــــه کـــي شـــور ویــــنم زیــری دعـــزت لـــري
ږغ دي دتکبیــــره ګـــوره کفـــر تــــه قیامـــت لـــري
ســـتړئ پــه مزلـــو نــه ســي مخکـــي مرغلـــري ســـته
اې دانقـــــلاب ســـــپاهي پـــام کــــوه ژوري ســــــته
اې منـــزل دي اوږد منـــزل غـــرو ســـره ټکـــري ســـته

## دخلقي دورې سرود

دخلقــي حکومــت پــه رویکــار کېــدو ســره دوی هــم دتېــرو رژیمونــو غونــدي ، دخپــل انقلابــي دولــت دســرود پــه عنــوان یــو شعر ملي سرود ته غوره کړ .

بلې !

دنومــوړي ملــي ســرود پــه محتــوی کــي یــوازي ، دکــارګري طبقــې لپــاره توجــه پــه زیاتــه پیمانــه ســره ســوې ده . لانــدي یــې لولی :

ګـــــرم ســـــه لاګـــــرم ســـــه
تــــــه اې مقــــــدس لمــــــره !
اې دازادی لمــــــــــــــــــــره !
اې دخپلـــــــواکی لمــــــــره !
مــــــوږ پـــــه طوفـــــانونو کــــــي
پــــــري کــــــړه دبــــــري لاره
ســــــره دســــــربازی لاره
پاکـــــــــــــــه دوروری لاره

دا انقلابي وطن
اوس د کارګرانو دی
دغه دزمرومیراث
او دمزدورانو دی
تیر سو دستم دور
وار دبزګرانو دی
ګرم سه لاګرم سه
ته اې مقدس لمره !
اې دازادۍ لمره !
اې دخپلواکۍ لمره !
موږونړیوالو ته
سوله او وروري غواړو
موږوزیار ایستونکو ته
پراخه ازادي غواړو
موږورته ډوډۍ غواړو
کور غواړو کالي غواړو
ګرم سه لاګرم سه
ته اې مقدس لمره !
اې دازادۍ لمره !
اې دخپلواکۍ لمره !

د موضوع په اړوند بویه ډېره شعاري ساري سته ، چې دلته دځینو نمونې راوړ :

## په عقيدتي اړخ کي :

کـه پروخـت دزکنـدن مـي دهـورا نـاره ونـه کـړه
بيـــا مـــي بـــولی ملګـــرو چـــي خلقـــي يـــم

××××××

څـــومره ده تيتـــه ه شـــپوه دنـــامرديو
څـــومره لـــوړه ده ســـره لاره دمرديـــو
څـــوک ســـخته ابـــادي دخـــوارو خلګـــو
څـه ســره رشــته ده دفرهنـګ دبربـاديو
سليمان لايق

## دساري په ډول :

دشــــــفق لـــــــه کنـــــــارو څـــــــه
دافـــــق لـــــــه ترانـــــــو څـــــــه
داشــــــعار راپورتــــــه کيـــــــږي
اســــتبداد بـــــه نـــــور نړيـــــږي
ســــور خلقــــي جــــان جــــوړيږي
عبيدالله ((څګرخون))

## دساري په ډول :

راغـــــــی انقــــــلاب
ســــور طوفــــان دخلــــق
تـــــول يــــي کبـــــاب
دښـــــــمنان دخلــــــق

ولاړه بـــــــــــاداري
ولاړه خانخـــــــــاني
ســــــول برابــــــري
طـــول ســـو مســـاوي
غرقــــه جمهـــــوري
وكــــړه روښـــــنايي
ځـــي پـــر پيچتـــاب
لمــــر تابــــان دخلــــق
مـــــانې دظلمــــــت
تولــــه ســـوه چپــــه
ســــترخلقي نهضــــت
كړيـــــــده شـــــغله
رفـــت وكــــى حالـــت
وې ختــــــل ريبنــــه
پورتــــه ســــو افتـــاب
پرجهـــــــان دخلــــــق
راغــــى پــــه رشـــتيا
نـــن خلقـــي قـــانون
تـــــوره ارتجـــــاع
ســـــوله ســـــرنګون
خلګـــــوكي هوســـــا
دمجنــــــون ژونـــــدون

اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دی ؟
کمونيســـــتان کـــوي ظلمونـــــه
ډک دي پـــــه خلګـــــو زندانونـــــه
هلتـــــه شـــــروع وهـــــل برقونـــــه
ســختي خــوارۍ دي دمحــبس پــر زنــدانيانو
اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دی ؟
مســـــلمانان يـــي ډيـــر بنـــديان کـــړل
لادرکـــــه يـــــي عالمـــــان کـــــړل
ډيـــر يـــي پـــه ظلـــم شـــهيدان کـــړل
کورونـه ډک دي پـه افغـان کـي پـه کونډيانو
اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دی ؟
افغانـــــان ټولـــــه پـــــه غوغـــــا دي
ســـــرتوري خوينـــــدي پـــــه ژړا دي
مســـــلمانان پـــــه واويـــــلا دي
وينـــي تـــوييږي پـــر هرځـــای دشـــهيدانو
اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دی ؟
دماشـــــومانو ســـــترګي ســـــرې دي
ديتيمـــــــــــانو غلبلـــــــــــې دي

خدايـــــه دا څـــــه دغـــــم لحظـــــې دي
وحشـــي ظلمونـــه دي دخلـــق او پرچميـــانو
اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دى ؟
پـــــه هـــــوا ګرځـــــي جهازونـــــه
پـــر هـــر ځـــاى غورځـــوي بمونـــه
خرابـــــوي کلـــــي کورونـــــه
اې ((ســـاقياره)) دا وحشـــت دي دروســـانو
اوښـــکي تـــوييږي دمظلومـــو يتيمـــانو
دمظلومـــانو دا څـــه تـــور تـــم دى ؟

افغـان ولـس دثـور انقـلاب ددې شـعاري اړخونـو پـه دايـرو کـي اسـير پاتـه نـه سـو ، بلکـه نـور يـې هـم احساسـات او جـذبات پـه زور کـي سـول . دواړو اړخونـو کوښـښ وکـړ ، دخپلـو هـدفونو دلاسـته را وړلـو لپـاره دتـولني لـه پيـاړي قشـر ((ځوانـانو)) څخـه دخپلـو اهـدافو دتـر لاسـه کولـو لپـاره کـاور واخلي .

## دساري په ډول :

کـه دتـورو دکـار نـه وي انسـان څـه دى
کـه دشـخړو ډګـر نـه وي جهـان څـه دى
کـــه دصـــبر بيـــړى دړي وړي نـــه کـــا
بـــې قدرتـــه بـــې هيبتـــه طوفـــان څـــه دى
سليمان لايق

چـي راغلـى زموږوسـيمي تـه فرنـګ دى
پـه دې خـاوره كـي لـه هغـه وختـه جنـګ دى
دوطـــن دازمويلـــو حاجـــت نســـته
تـول يـې ګـوري چـي پخپلـو وينـو رنـګ دى
سليمان لايق
ملګرتيـــا دشـــوروي خلګـــو كـــره ده
پـــه اورونـــو بانـــدي ســـوې ده او ســـره ده
سليمان لايق
اې ســـــــربازه يـــــــاره !
خپـــژه پـــر مـــر چـــل بانـــدي
بيـــا بـــه دي وده كړمـــه
ســـيوري داوربـــل لانـــدي
مـــــاهم ملاتړلـــــــې ده
ځمـــه دوطـــن پـــه ننـــګ
ګـــوره چـــي پـــر شـــا نســـې
نېـــغ ځـــه پـــه تكـــل بانـــدي
بيـــا بـــه دي وده كړمـــه
ســـيوري داوربـــل لانـــدي
داپاكســـــتانى دښـــــمن
مـــه پرېـــږده دې خـــاوره كـــي
ســـترګي يـــې وروباســـه
تـــش پـــه يـــو كتـــل بانـــدي

بیـــــا بـــــه دي وده کړمـــــه
ســــــیوري داوربـــــل لاتـــــدي

## یا لکه :

تــام مشــغولیت ولــس کــي تامــه ســوکالي غــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
ژونـد دژونـد پـه څېـر او دولـس انـدیوالي غــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
درد هــــــــــره لحظـــــــــه پــــــــه کښــــــــي
لـــــــــوږه همېشــــــــــه پــــــــه کښــــــــي
لـــــــــخ او بُرهنــــــــه پــــــــه کښــــــــي
مـــــــــوږ هغــــــــه جــــــــونګړه کــــــــي
خوښــــــــــۍ او خوشــــــــحالي غــــــــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
هلتــــــــه چــــــــي ســــــــتم نــــــــه وي
هــــــیخ دخــــــه شــــــي هــــــم نــــــه وي
یــــــــو لــــــــه بلــــــــه کــــــــم نــــــــه وي
مــوږه دجهــان هغــو قومــو ســره ســیالي غــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو
کـــــــــور ، ډوډۍ ، کــــــــالي ،غــــــــوارو

تش چې دچا کور نه وي
لخ چې مو کوم ورور نه وي
رفع احتیاجات دټولوخلکواولي غواړو
کور ، ډوډۍ ، کالي ،غواړو
کور ، ډوډۍ ، کالي ،غواړو
ورک چې استثمار کاندي
ختم استعمار کاندي
بل جهان اعمار کاندي
موږ دکارګرانو حکومت نړیوالي غواړو
کور ، ډوډۍ ، کالي ،غواړو
کور ، ډوډۍ ، کالي ،غواړو

لطف الرحمن ((خاموش))

ددې دهرد لړيو پيردار ملګرې
دوچودښتو هسکو غرونو خدمتګار ملګرې
اې په تن لوخ په ګېډه وږی درمو شپونکيه
اې دخانانو په دربار کې ناقرار ملګرې
اې چې داستا دلاس تناکي بل ته عیاشې جوړوي
چې تل دنورو اوبچې ستا داوړو بار ملګرې
اې رټل سوی وهل سوی دبې بې مزدوره
اې دعمرو سترې ستومانه په ډېر بار ملګرې
چې دهر چا په مخ کې درومې خدمتونه کوې

څـو سـتا لپـاره کـړي کلـه دچـار کـار ملګـرې
آې دیـوې ګـولې ډوډۍ پـه تکـل سـتړی وروره
اې دزحمـت ، دقربـانۍ او دایثـار ملګـرې
زړی پـر تـا چـې پـه وطـن کـې ستا دوران راغلـی
نـور دکـارګرو او بزګـرو راغـی وار ملګـرې
وطـن خپلـواک سـو دملـت خـوږ و ډب ورک سـوله
خلـګ بـه ودان سـې ورنـه ورک سـوله لوټمـار ملګـرې
اې زمـا او سـتا لـه غمـه نـس بـه څـوني مـوړ وو
دخلګـو ګونـد ورک کـړ داهسـې فریبکـار ملګـرې
چـې زمـوږ شـتنمی رانـه وړلـې دخپـل ځـان پـه ګټـه
وطـن دي خـلاص سـو لـه داسـې سـرغدار ملګـرې
نـوري بـه نـه وي داورانـې ویجـاړي سـتادژوند لپـاره
پـه پـوره مینـه ابـادېږي زمـا خـوار ملګـرې
بزګـرو ،کـارګرو ، زیارکښـانو لاس مـو یـو کـړی
نـور بـه دا وطـن کـړو خپلـه ګلـزار ملګـرې
زیـاتي بـه خـلاص لـه بـدمرغیو سـو مـزدوره اشـنا
زمـا ((قتیـل)) پـه دې بانـدې اعتبـار ملګـرې
قتیل خوږیانی

## دانقلاب کلی

دطوفـاني اسـیا لـه زړه نـه راغلـم
دامریکـا دانقـلاب کلـې تـه
لـه جګـو غرونـو او پراخـو دښـتو

ښــکلي کيوبــا تــه ددريــاب کلــي تــه
ســره جزيــره ده ددريــاب پــه مــنځ کــي
ســــره مرغلـــــره ده ځلېـــــږي دلتـــــه
دســـرمايي پـــه طلايـــي ســـترګو کـــي
داورســــــکروتهه ده بلېـــــږي دلتـــــه
مـــا دکيوبـــا انقلابـــي ولـــس تـــه
دخپلـــو خلګـــو پيغامونـــه را وړل
مـــا دافغـــان دغوړيـــدلي باغـــه
دتـــودو هيلـــو ځـــو ګلونـــه را وړل
دلتـــه زمـــوږ دانقـــلاب لپـــاره
دخلګـــو هيلـــي غځـــوني کـــوي
دلتـــه پـــه دې انقلابـــي وطـــن کـــي
ســـره اميدونـــه الـــوتني کـــوي
مـا پـه دې خلګـو کـي ژونـدون وليـده
مـــا پـــه دې خلګـــو ګرمـــي وليـــده
مـا پـه دې خلګـو کـي دمينـي احسـاس
مـا پـه دې خلګـو کـي دوسـتي وليـده
دوى دنـړۍ لـه زيـار ايسـتونکو سـره
دکـــار اوســـولي دلښـــکر ملګـــري
دوى دتيـــري دپرزيـــدو پـــه کـــار کـــي
زمـــوږ د رزم دســـــنګر ملګـــــري
هـــره ګلپانهـــه يـــې دســـولي ډ يـــوه

هـــر مرغـــی یـــې دژونـــدون کـــوتره
هريـــو زلمـــی یـــې جنيګـــالی دســـولي
هـــره نجلـــۍ دپيســـتون کـــوتره [3i]

## ته اتل سوې

دتيـــارو لاره دي پـــرې کـــړه تـــه اتـــل ســـوې
زمـــا ګونـــده درزمونـــو قهرمـــان ســـوې
تـــا دســـتورو تخموکـــاره وطـــن کـــې
تـــه اتـــل ســـوې تـــه اتـــل دټـــول جهـــان ســـوې

## سپيڅلي ارمانونه

ړنـــګ ســـوله قصـــرونه دســـتم زولنـــې مـــاتي ســـوې
اوس پـــه دې وطـــن کـــې دخوښـــيو اتهونـــه دي
ړنګـــه دبدمســـتو دمســـتيو دلکشـــاه ســـوله
نـــور پـــه ســـلګليو د وختونـــو نيرنګونـــه دي
ثنګـــه مـــو نـــر دغونـــدي ســـو دا وکـــړه لـــه ســـر ــ ســـره
ثنګـــه مـــو بـــل کـــړي پـــر دښـــمنو ســـره اورونـــه دي
مـــوږ چـــې دغيـــرت تـــوره پـــه نـــره تـــر خپـــل ملاکړلـــه
اوس تـــرې پرهـــار پـــانګو کـــې دکوګـــل زړونـــه دي
مـــوږ دلپونيـــاينو لپـــونۍ هيلـــې پـــه ګـــور کړلـــې
مـــوږ دخرمســـتانو پـــر زړو اينبـــې انګارونـــه دي

[3] دکاوون ((طوفاني)) اثر دتېر پــه ذهن کي۴۷ـ۴۸مخونه

مورې دخپلو خلګو دسرونو کسات واخیسته
غوخ مو دغلیمو له تنو څه ورمېږونه دي
مورې دملګرو شهیدانوویني خپلي کړې
اوس یې له سروینو ټوکېدلي سره ګلونه دي
مورې دخپلو لویو ولسونو شمله جګه کړله
اوس راغوړېدونکی تنکۍ هیلي امیدونه دي
زه دوطن زوی یمه په سروینو به یې ساتمه
تل مي په زړګي کي داسپېڅلي ارمانونه دي

4

## جهادي اړخ

په قيمت دتودو وينو وړاندي درومي
داده حق او دباطل مقابله ده
دموټر هواداران يې په كار نه دي
انقلاب دى دككرو قصابه ده

## يا په دې ډول :

زېرى دسبا لري
ختمې توري شپې غواړي
داده عقيدې عسكر
ژوند دعقيدې غواړي

---

[4] ((سپېره ډاګونه غوړېدلى بزغلى)) داسحق ننګيال اثر ۲۴ مخ

داده دسنګرو اتل
دا ده موچلو سپاهي
داده شهادت وارث
داده دپرګنو سپاهي
داده لوړو غرو عقاب
داده تاترو سپاهي
دغه دسېلاب څپه
داده دطوفانو سپاهي
نه منې اسېر ژوندون
ماتي زولنې غواړي
داده مقاومت بچی
داده هر څه تاب لري
دا ځان ځارولای سي
روح دانقلاب لري
دا اوس پارد ېدلی دی
ظلم ته جواب لري
وینه چي يې توی کړله
اوس تري جوړګرداب لري
داده داستبداد پر کور
جوړي زلزلې غواړي
دا اوس عادت سوی دی
ستونزو کړاوو سره

لـــــوړو اشــــنا کړیــــدی
غـــورو کـــي لوبیـــدو ســـره
ســتر هــدف یــې مــخ تــه دی
ځــــي لـــــه ارمـــــانو ســـــره
اوس یـــــــې اراده کـــــــړې
درومـــــي لـــــه ارزو ســــره
دغــه دفســاد دښــمن ړنګــي
میخـــــــــاني غـــــــــواړي
ورانـــي یـــې مـــانۍ کړلـــې
جـــوړ یـــې طوفانونـــه کـــړل
ظلـــــم یـــــې زرې ــــــ زرې
غـــرق یـــې کـــار وانونـــه کـــړل
کفـــــر یـــــې رســـــوا کړلـــــو
مـــات یـــې ســـره صـــفونه کـــړل
خیـــري یـــې پـــر دې کړلـــې
لـــخ یـــې تـــور مخونـــه کـــړل
اوس را لتېـــــــــــــدلی دی
هـــر ځـــای کـــي لتـــون غـــواړي
داده دلـــوی پیغـــام قاصـــد
هرځـــای کـــي پـــاخون غـــواړي
نـــه منـــي اســـیر ژونـــدن
مـــــاتي زولنـــــې غـــــواړي

دا دعقيـــــدې عســـــکر
ژونــــد دعقيـــدې غـــواړي

## يا لکه دا چي:

ســر لــه ســره يــې ســم بــار کــوږ پــه مزلــه ســو
چـــي بدمرغـــه پـــل پرپـــل دبـــل پـــر پلـــه ســـو
چـــي ازل يـــې يـــاري نـــه کـــړل لـــه مبـــدا څـــه
نـــــن مېلمـــــه د مســـــتيو پـــــر کالـــــه ســـــو
خـــدای خبـــر چـــي بـــه يـــې روغـــه ورځ ســـي برخـــه
چـــــي همـــــراه دبـــــدراهانو پـــــر فالـــــه ســـــو
تـــل دي يـــاد ســـاتي دزړه پـــه تـــاتره کـــي
ور پـــــه برخـــــه يـــــې تـــــاړاک دازلـــــه ســـــو
وکمـــــون تـــــه دي همـــــدا خـــــاطرات بـــــس وي
پـــه جهـــان کـــي چـــي يـــې دردزړه پـــه خولـــه ســـو[5]

## يا لکه داسي :

دفـــولادو پـــه محـــبس کـــي زکنـــدن داســـارت دی
دا زنـدان بـه ويجـاړېږي پـرې ګـذار دلـوی قـوت دی
دختـــيځ پـــه هـــديره کـــي جنـــازه دســـره کمـــون ده
نـــور ختمـــه پـــه لـــودېځ کـــي ډرامـــه دتمـــدن ده
داســـلام دحکومـــت وار دی زمانـــه داووبنـــتون ده

---

نوراحمد حميدي ((قران مل)) کوټه ، بلوچستان ۱۳۲۹

تروږمـــی بــه رڼــا کېــږي مشـــال روڼ دســباوون ده
استضــــعاف دی لتېـــدلی دبېوزلــــو حرکـــت دی
دا زنـدان بـه ويجـاړېږي پـرې ګـذار دلـوی قـوت دی
دافســــون منتـــر مـــاتېږي دنيرنــــلك دســــاحرانو
اخـــر ســـلګی يـــې خېـــژي د وارســـا دقصـــابانو
ميخــــاني دي لـــر زېـــدلي ديـــورپ دشـــرابيانو
دژونــد ورځ يـــې ماښـــام ده نــاتو دســـنګر چيـــانو
دا زمـــوږه ادعـــا نـــه ده دغـــه حکـــم دفطـــرت دی
دا زنـدان بـه ويجـاړېږي پـرې ګـذار دلـوی قـوت دی
ژر بـــه څېـري دا پـردې ســي تورمخونـه بـه لڅېـږي
هتکـــړی بـــه يـــې وشـــلېږي زندانونـــه بـــه مـــاتېږي
دوســـلو ســـودا ګـــران بـــه بـــارودو کـــې ســـوځېږي
دفسـاد پـه ورځ پخپلـه بـه پـه ډنـډ کـې غوټـه کېـږي
دا بـه کېـږي .دابـه کېـږي دغـه خواسـت دبشـريت دی
دا زنـدان بـه ويجـاړېږي پـرې ګـذار دلـوی قـوت دی
دبقاچـانس يـې بـايللی تـلك مسـير يـې نسـکورن دی
زمانـه پـر شـاهده چـې فرهنـك يـې ګـر غبـړن دی
ارمغـان يـې بشـريت تـه سـر تـر پايـه لـوغړن دی
توليـدکړی يـې بحـران دی داجهـان تـرې کـړکيچن
دی
سرنوشـت يـې ناکـامي ده خجالـت دی او زلـت دی
دا زنـدان بـه ويجـاړېږي پـرې ګـذار دلـوی قـوت دی

## یا لکه داسي :

راځی چي کړو ازاد افغانستان له شورویانو
غیرتوکړی ځوانانو ، غیرت وکړی ځوانانو
غیرت وکړی پاځېږی
سنګر ته روانېږی
دحق پر لار جنګېږي
دننګ تور تر ملا کړی غیرت منو افغانانو
غیرت وکړی ځوانانو ، غیرت وکړی ځوانانو
سري وینې دي تويیږي
دسې په شان بهېږي
سُرخي يې پورته کېږي
کاروان دی را روان په وینو رنګ دشهیدانو
غیرت وکړی ځوانانو ، غیرت وکړی ځوانانو
را ځی مجاهدینو
پر خپل وطن مینو
قران ګتېو په وینو
دا وخت دی دغزا داحمدشا غازي بچیانو
غیرت وکړی ځوانانو ، غیرت وکړی ځوانانو
وطن دجنګیالو دی
میهن دتوریالو دی
هیواد دشنو زمرو دی
مانۍ په لړ زېدو دی دپرچم و دخلقیانو

غیــرت وکــړی ځوانــانو ، غیــرت وکــړی ځوانــانو
دروس ډ پــــــــــر ظلــــــــــم خپــــــــور دی
را بــــــــــل پــــــــــر هرځــــــــــای اور دی
نــــــور ژونـــــــد مــــــــور، تــــــه پیغـــــــور دی
نــــاري او غلبلـــــي دي دکونـــــډیانو یتیمــــــانو
غیــرت وکــړی ځوانــانو ، غیــرت وکــړی ځوانــانو
زاړه فکرونــــــــــــــــــــه پرېــــــــــــــــــــږدی
خــــــــــــواړه خوبونــــــــــــه پرېـــــــــــــږدی
دانـــــــــــور چورتونـــــــــــه پرېـــــــــــــږدی
شــین تــوغ دتوحیــد واخلــی پــه لاســو کــي اتلانــو
غیــرت وکــړی ځوانــانو ، غیــرت وکــړی ځوانــانو
دخپـــــــــــل دیـــــــــن خــــــــــد متګار یــــــــــم
ددي خــــــــاوري غـــــــــم خــــــــوار یــــــــــم
مســــــــــــــلم زه ((ســــــــــــــاقیار)) یــــــــــــم
لاســــونه ســــره ورکــــړی متحــــد ســــی مؤمنــــانو
غیــرت وکــړی ځوانــانو ، غیــرت وکــړی ځوانــانو

# شخصي بریدونه

هـر څـه انقلابـي ،مقـاومتي او جهـادي سـول . مجاهـدينو بـاور درلـود ، دهیـواد ټـول هغـه اوسـېدونکي چـي پـه افغانسـتان کـي فعلـي استوګنان دي پـه ښـه او بـد چـي پـوه وي . خپـل فکـري اړخونـه یـې پـر دوو بـاورونو وېشـلي ،لمړی یـې پـه هیـواد کـي دنـوي نـه منـنوکي عقیـدې ((کمـونیزم)) ضـد مفکـوره لـري ، دوهـم یـې دموجـوده حکومـت تـر څنـګ دهغـه تـر سـیور لاندي دمجبوريتونو يا دنوموړي مفکورې پيرو دي .

د ثـور کوتـا تـر بریـا وروسـته دهغـې پـه لمړنیـو میاشـتو ولـس پـر دي حسـاب کـاوه ،چـي پـه افغانسـتان کـي درې قشـره (( حکومتي پلوه ، مجاهد پلوه ، بېطرفه )) اوسي .

پـه دي اړونـد دخلقـي حکومـت دوهـم مشـر حفـیظ الله ((امـین)) ددې مفکـورې دلیـري کېـدو او پـه ملـت کـي دجبهـاتو دمعلومولـو پـه ټاکنـه دا خبـره کـول ،چـي دده پـه اصـطلاح پـه خلقـي افغانسـتان کـي بـل نـه چلېـږي بـې طـرف ((بـې شـرف)) منځنـی قشـر یـا بـه دخلقـي حکومـت تـر سـیوري لانـدي کېـږي او یاکه داسي نه کوي ولاړ دي سي داخوانیانو سره دي ودرېږي :

پـه دي دواړو اړخونـو کـي هغـو غزلچیـانو ، نعـت خوانـانو او چـي ددې لـړۍ پـه دوام یـې پخپـل شـوق ، زور او یـا عقیـدتي لېوالتیـا سـره سـندري ، حماسـي شـعرونه او ترانـې ویلـې دمتقـابلو اړخونـو او یـا هـم پخپـل منځنـي رقابـت کـي دهـدفونو دګولیو ښکار سول .

احمــد ظـاهر د ډاکتــر ظـاهر ((پخــواني صــدراعظم)) زوی دعبــدالله امــين پــه يــوه جــوړه توطيــه دسـيد داؤ د تــړون پــه توسـط پـه يـوه ترافيکـي پېښـه کـي ، خـان قـره بـاغی دټوپـک پـه مرميـو دمجاهـدينو لخـوا ، مېــرمن بخـت زمينــه پـه شــرابو کـي دمکسـچرو ((تېزابـو)) پـه ورکـړه ، عبيــدالله کنـدهار غونـدي مـړه يـا وويشــتل سـول . او دشــهيد احمـد شـاه ((حيـدر)) غونـدي دمخامخ جګړې په ترخ کي شهيد سو . [6]

~~((شـهيد احمـد شـا ((حيـدر)) دکنـدهار~~ولايـت دپنجـوايي ولسـوالی دچاربناخې[6] کلي دمحمدزيو له کورنی شخه وو ، په پېښور کي دافغان سـيدجمال الـدين لـه ليسـي فـارغ وو ، الله ج ډېـر جـذاب او انقلابـي اواز ورکـړی وو ، لـه افغانستانه دشوروي لښکرو دوتلو په کال ۱۳۲۷ دلېندۍ پر ۱۵ نېټـه د دوشـنبې په شپه ،دشپې پر لس بجې دسرپوزې ((چهل زينو)) په سيمه کي پر دښمن دبريد پر مهال په شهادت ورسېد ، نوموړي خپله هم لږ لږ شـاعري کولـه . لـه شـعرونو شخه يې يوه معماپه لاندي ډول پاته ده:

هغــه څــوک دی چــي اصــلي نــوم يــې احمــددی ؟
چمــن شــين محبــوب ولاړ ســترګه يــې ښــکاري .

ماخذ : دقاري محمد طاهر ناتوان کتابتون))

[[حـل : پـه لمـړي نـيم بيـت کـي د ((احمـد)) نـوم چـي دعربـي صـرفو پـه قواعدو کي اسم تفضيل او د ((افعـل)) پـر وزن دی . پـه دوهـم نـيم بيتـي کـي يې لـه ((چمـن شـين)) شخـه مـراد (( دالفبـا)) دتـورو د ((ش)) تـوری دی ، محبـوب ولاړ يـې د ((الـف)) تـوری دی چـي لـه ((ش)) سره پيوست تـرمخ وليکـل سـي ((شـا)) ور شخـه جوړېږي او سترګه يې يو سترګې ((ه)) ده ،چـي د ((شـا)) دالـف پـر سـر کـارول کېـږي ((شاه)) ځيني جوړېږي ، ((شاه)) دتر کي ژبې له کلمو شخه يـوه کلمـه ده چي مفـرس

دهنـر منـدانو تـر څنـګ ځینـي شـاعران ، لیکـوالان او پوهـان ځانتـه دنجـات ورکولـو پـه موخـه لـه هیـواده مهـاجر سول.

چـا ملـت تـه دهغـه دحـق دادایـني پـه نیامـت نـږدي هیوادونـو تـه د پنـاه اخیسـتلو پـه موخـه ولاړل ، یـا دجهـاد پـه صـفونو کـي ودرېدل یـا سوسیالیسـتي هیـوادو تـه ولاړل ، هغـه پوهـان او فرهنګیـان ، چـي لـه پخـوا یـي سـیکولر مفکـوره درلـودل یـا یـي خپلـي کمونیسـتي مفکـورې تـه پـه انکـار کـي سول وغربي هیوادونو ته ځانونه ورسول .

ځینـي پـه هیـواد کـي پاتـه او یـا دعبیـدالله ((ځګرخـون)) غوندي مړه سول .

شـعرونه لـه شـعري ښـکلا څخـه پـه شـعاري بڼـه بـدل سـول او بیـا وروسـته پـه شخصـي بریـدونو واووښـتل چـي ځینـي مثالي بیلګي یي په لاندي توګه لوستلای سو :

ددي خلګـو پـه مـټ لـوی لیـډران سـول
بیـا بـه بیرتـه دهمـدغو قـاتلان سـو
تـاریخ واخیسـت امتحـان دښـو او بـدو
را یـي ورل ګـلان واښـه دبیابـان سـول

## مقابل لوری :

---

ډول يي هم همدا ډول ليکل کېږي ، دا د ((شاه)) کلمه چي د لمړي نیم بیتي له ((احمد)) سره يو ځای کړي ، ((احمد شاه)) ور څخه جوړيږي . قران مل]]

افغانستان لره دي راوستل روسان ببرکه!
اې بې ایمان ببرکه وطن دي خرخ کړی
ښه را معلوم یې پرچمی یې
دشوریان ګوډاکی یې
روس دي بادار ته یې مریی یې
درس دي دویلي دابلیس اودشیطان ببرکه
وطن دي خرخ کی بې ......
دشورویانو لوی جاسوسه
تاراوستل عسکر دروسه
پر شوریان دي کړ خرخ افغانستان ببرکه
خدمت کوي دبادارانو
داده مسکو دشورویانو
دملحدینو کمونیستانو
دعروسک په نوم دي پېژني جهان ببرکه
جهان دي پېژني بې دینه
چې مسلم نه یې اې لعینه
لري دکفر سره مینه
پر څه بیا وایې چې زه یمه مسلمان ببرکه
دملحدانو څه بېزار یم
داسلامي دین خدمتګار یم
مسلم شاعر زه ساقیار یم
پای به نسکور سي ستاسره ټول پرچمیان ببرکه

## دجګړې په ډګر کي

هیر مو نه سي افغانانو هېر مو نه سي
شوروي ستاسي پر حق باندي سر کښېښود
استعمار ورته جکي سو تر پېکنګه
څوک چي تاسي له رالري سو ده پرېښود

## یا لکه داسي :

دسنګر پر مړي مه ژاړی ملګرو !
تر هدفه قرباني قهرمان سو
دوطن پر ننګ یې سر اومال فدا کړ
دخپل کلي وو خو اوس دټول جهان سو

## مقابل لوری :

مجاهدین قهرمانان دي کندهار ته ځي
توپک په لاس داحمدشابابا وښار ته ځي
دارغنداب باغونه
دي پر شروع جنګونه
زلمیان بایلي سرونه
داده دپاشمول پر حصه سوځي ټانګونه
پر دغه لار نه پرېږدي لوی کار وانونه
مجاهدین قهرمانان دي کندهار ته ځي
توپک په لاس داحمدشابابا وښار ته ځي
په کندهار کي دی جنګ

دابنـــــار پـــــه وینــــو دی رنــــــګ
دا ځـــــــــای دی دنــــــــام وننــــــــګ
داده دپاشـــمول پـــر حصـــه ســـوځي ټانګونـــه
پـــر دغـــه لار نـــه پرېـــږدي لـــوی کـــار وانونـــه
زه ســـــــــاقیار یـــــــــې صـــــــــفت
کومـــــــــــه پـــــــــه هرســـــــــاعت
یادومـــــــــه یـــــــــې غیـــــــــرت
داده دپاشـــمول پـــر حصـــه ســـوځي ټانګونـــه
پـــر دغـــه لار نـــه پرېـــږي دي لـــوی کاروانونـــه
مجاهـــدین قهرمانـــان دي کنـــدهار تـــه ځـــي
توپـــک پـــه لاس داحمدشـــابابا وښـــار تـــه ځـــي

## یا لکه داسي :

ســـتا پـــر ارواح ویمـــه دود دنـــام وننـــګ شـــهیده
پـــه وینـــو رنـــګ شـــهیده جنـــت دی ځـــای دی
چـــي پـــه ژونـــدون بـــه تلـــې غـــزا تـــه کفـــار دي وژل
اینبـــي دي ســـردخدای رضـــاته کفـــار دي وژل
ځـــان فـــدا کـــړ خپـــل مـــولی تـــه کفـــار دی وژل
تراســـمان پـــوري تللـــی ســـتادتوري شـــرنګ شـــهیده
پـــه وینـــو رنـــګ شـــهیده جنـــت دی ځـــای دی
پـــه وینوســـوردي ســـورکفن ســـوپر حـــق شـــهیده
پـــه تـــانوراني خپـــل مـــدفن ســـو پـــر حـــق شـــهیده

هـــم دي ســـرلوړی خپـــل وطـــن ســـوپرحق شـــهيده
ســـتا لـــه زياتـــه ځخـــه ځـــي بـــوی دلونـــك شـــهيده
وينـــــو رنـــــك شـــــهيده جنـــــت دی ځـــــای دی

## يا لكه داسي :

هـــــره دښـــــته او بېـــــديا مـــــو كـــــربلا ده
هـــره ورځ مـــو پـــه وطـــن كـــي عاشـــورا ده
دلتـــــه جـــــوړ دي دســـــرو وينـــــو ســـــېلابونه
لـــــه ســـــروځخه جـــــلا ســـــوه ډېـــــر ســـــرونه
لـــــړل ســـــوي پـــــه ســـــروونيو دي ډاګونـــــه
لـــــر او بـــــر ورتـــــه حيـــــران دي ولســـــونه
شـــور ماشـــور دی ويـــش وای دی او غوغـــا ده
هـــره ورځ مـــو پـــه وطـــن كـــي عاشـــورا ده
دحســـين كربښـــه پـــه وينـــو ليكـــل كېـــږي
حســـــينيان كلـــــه ظـــــالم ځخـــــه وېرېـــــږي
دظـــالم پـــه وړانـــدي هـــر څـــوک چـــي درېـــږي
دحســـين غونـــدي لـــه ســـر ځخـــه تېرېـــږي
دحـــــق لاره لـــــه باطـــــل ځخـــــه جـــــلا ده
هـــره ورځ مـــو پـــه وطـــن كـــي عاشـــورا ده
دحســـين كربښـــه پـــه وينـــو مينځـــل كېـــږي
عاشـــقان دشـــهادت پـــرې ښـــه پـــوهېږي
دشـــــهيد ســـــپېڅلي وينـــــه نـــــه اوچېـــــږي

دوحــــدت دبــــڼ ګــــلان بــــه خړیـــوبېږي
ازموینـــــــه ارمغښـــــت دځښـــــتن داده
هـــره ورځ مـــو پـــه وطـــن کـــي عاشـــورا ده

اند ښنــــنومو درد نیـــولی دی پـــه تڼـــدو
ســـېلابونه ډک لـــه وینـــو څـــه تـــر څنـــدو
مـــاتم جـــوړ پـــه محفلـــو دی او پـــه غونـــدو
پـــه هرځـــای کـــي جـــوړه ســـوې واویـــلا ده
هـــره ورځ مـــو پـــه وطـــن کـــي عاشـــورا ده

یتیمـــــان خپلـــو پلرونـــــو پســـــي ژاړي
هـــر ماښـــام یـــې خپلـــو میندو څخـــه غـــواړي
افغانـــــان دشـــــهادت پـــــه مقـــــام ویـــــاړي
کـــه کـــاکړ دی ، کـــه انـــدړ دی او کـــه ګـــاړی
پـــه لـــوی کـــومي دشـــهید مـــور پـــه ژړا ده ده

## دکمونیزم جنازه :

تـــر لکـــې مـــو تینـــک نیـــولی دی حیـــران ځـــي
شـــوروي ابلـــیس پـــه تیښـــته لـــه میـــدان ځـــي
داده دمـــــارکس دفلســـــفې زړه بـــــودې ده
دا مکـــاره پـــه څـــه چـــم او پـــه ګریـــان ځـــي
منـــافق دی پـــه مکـــه کـــي توبـــه کـــاږي
پـــه ناپاکـــه خولـــه یـــې لفـــظ دقـــران ځـــي
اوس دصـــلحي پـــه زاریـــو مرکـــې کـــړي

جنـــــازه دکمــــــونیزم ددوران ځـــــي
لـــر او بـــر یـــې دشکســـت نـــارې خپـــرې دي
یـــا ابـــی ابـــن خلـــف نـــن پـــه فغـــان ځـــي
پـــز پـــرې کـــړی بـــه هـــیڅ شـــرم نـــه لـــري بیـــا
چـــي تبـــره نـــوم یـــې دچـــړې یـــې لـــه دهـــان ځـــي
داددې پیـــــړۍ نمـــــک حرامـــــه یـــــار دی
پـــام کـــوی چـــي پلـــه بینـــه پـــه طوفـــان ځـــي
داســـور مخـــی ، دا شـــین ســـترګی حرامـــي دی
چـــي بچیـــان یـــې هـــم لـــه دنـــه پـــه تـــاوان ځـــي
دمشـــــرق کمونیســـــتان ټولـــــه خپـــــه دي
چـــي روســـان پـــه بیـــره بیـــړه پـــه کـــاروان ځـــي
اوس عبـــرت واخلـــی ددې ځـــای دهریـــانو
عـاقبـت یـې سـي همداسـي پـه ارمـان ځـي
اوس مـــــو زور درحمـــــاني لاري درو ښـــــود
دچـــا خوښـــه چـــي پـــر لاري دشـــیطان ځـــي
دجهــــاددرود نیـــــل څپـــــې ســـوې مســـــتي
چـــي پـــر لـــوري دفرعـــون و دهامـــان ځـــي
مؤمنـــان بـــه دنجـــات کښـــتی تـــه خېـــژي
داغـــراق اوبـــه تـــر ســـره دکنعـــان ځـــي
ددې ځـــــای دملحـــــدينو هـــــم توبـــــۀ ده
چـــي بـــه بیـــا پـــر دغـــه خـــاوره خرامـــان ځـــي
دادی کـــــار دبهـــــادرو مؤمنـــــانو

## باسواده غازیان

هغــه ځــو غازیــان چــي وه خبــر لــه کتــابو څخــه
ســم یــې زړونــه وایســتل دکفــر لــه ســینو څخــه
ړنــګ یــې تدابیراســتعماري کــړل دایمــان پــه زور
غېــــږه داســــلام یــــې وســــاتله لــــه پــــردو څخــــه
کــاخ داســتبداد یــې تکــاني کــړ دایمــان پــه زور
پورتــه یــې ګنــاه کــړه لــه بــد مســتو میخــانو څخــه
مــاتې یــې ککــرۍ کــړې دایمــان پــه فــولادي متهــو
محــوه یــې نخــا کــړه دبربنــدهو آهنګــو څخــه
پلــي یــې پرلــوري ددښــمن کــړی اســلامي قشــون
ورو ورو یــې خــارج کــړل ملحــدین لــه وطنوڅخــه
تــوی یــې ســول مــاغزه دطیــارو پــه غرغــړو ســره
نــــه ســــوله پرشــــا دعواقبــــو مرحلــــو څخــــه
پــاکي ســپیني پښــې یــې پــه بموټوټــه ټوټــه ســولې
چــــي هــــم دلتــــه هــــم بــــه هلتــــه خرامــــان ځــــي
بیــــا بــــه شــــور نــــارې دالله اکبــــر ســــي
مجاهــــد بــــه خپــــل وطــــن تــــه قهرمــــان ځــــي
د ((صــــمیم)) لــــه شــــعره ســــور کمــــون بېرېــــږي
چــــي هربیــــت یــــې دکــــارتوس غونــــدي روان ځــــي [7]

---

[7] وګ ((البیان مجله پرله پسې ۲۲ـ ۲۷ګڼه ۱۳۲۷المریز کال))

ملـک یـې پـاک صـفا کړ د ظـالم لـه وحشـتو څخـه
خـلاص یـې دعلمـي هـوس زنـدان کـړ دفهیم پـر مـخ
ورک یـې بـیم او تـرس کـړ دشـاعر رمـزي بېتـو څخـه

قاري محمد طاهر فهیم((ناتوان))

# منشور اړخ

شعاري بڼه:

دخبري رسنيو ، شعارونو ، پروپاګندونو او ......
القاب او اتهامات تر حد واووښتل . حکومت له پيله پر جهادي او مقاومتي اړخ دتوري ارتجاع ، اخوان شياطين ، اشرارو، او بيا وروسته دروسي لښکروتر وتلو دافراطيونو ، اپوزيسيونو او بلاخره يې دخوابدي ورونو په نومونو ونومول .

مجاهدينو هم دخپلو وينو صرفه ونه کړه . دخلقيانو، پرچميانو ، قطبي خرسانو ، وطنفروشانو دپرديو تالي څټو او ..... په نومونو ددولت اړخ ونوماوه . په مترادفو اړخونو کي هر يوه ګوند پخپل منځ خپلو غړو ته القاب اوداړيکو اصطلاحات را وړاندي کړل .

## القابي ډولونه

خلقيانو تر خپل منځ د((ملګرو)) ، پرچميانو د((رفقها)) ، حزب اسلامي د (( ورونو ))، جمعيت اسلامي د((همسنګرانو)) محاذملي ، نجات ملي ((برادران )) حزب اسلامي خالص او حرکت انقلاب اسلامي محمد د((ملا ورور)) او نورو جهادي ګوندونو د .....اصطلاحات غوره کړل .

ددي تر څنګ په مليشايي اړخ فدا يان اسلام ، کندکيانو ، ګلمجمانو ، سربازانو ، وطنپرستانو او قومي

توپکوالو اصطلاحات وکارېدل ، نور ډېر داسي څه وویل سول ، چي په تېردو دورو کي یې ساری ډېر لیدل سوی دی .

## لیکني

ادبي لیکني کېدلې ، نوي سلنه یې په عقیدتي ، حماسي اوسیاسي نثر پوري اړه درلوده ، چي بویه ډېري رسنۍ ، رسالې، کتابونه ، اخبارونه حتی را ډیویي او تلویزیوني ستېشنونه ددولت او دولت دمخالفینو په وړاندي رویکار سول .

دکابل دحکومت په اړخ کي سره تر دې ، چي دوه اړخیز ګوندي پرکسینونه ((خلق او پرچم)) موجود وه ، ولي تر ډېره یې شعار چي دکمونیزم دفاع یې هدف وه ، چي دبېلابېلو رسنیو له خولو او ژبو څخه خپرېدې.

په جهادي اړخ کي په لمړي ځل دمجاهدینو دمخکښ ګوند ((حزب اسلامي افغانستان)) له خوا دشبنامو او اخبارونو په مرسته خپل فرهنګي فعالیت را پیل سو .

وروسته هر جهادي ګوند دخپلو ارمانونو ترجماني رسنۍ تر خپراوي لاندي ونیولې ، چي دلته په دې کتاب کي تر دې دمه دتر لاسه سوو معلوماتو په لړ کي ددولت او جهادي ګوندونو درسنیو لړ لیکونو لاندي لولو:

## دکابل په حکومت پوري اړوند

1. هیواد ورځپاڼه
2. انجمن نویسندهګان
3. قلم
4. نوای صبح ورځپاڼه
5. کابل ټایمز ورځپاڼه
6. انیس ورځپاڼه
7. ملي ننګاه جریده
8. اتفاق اسلام ورځپاڼه

## په حزب دموکراتیک خلق افغانستان پوري اړ وند

1. پیام ورځپاڼه
2. ګوندي ژوند میاشتنۍ
3. درفش جوانان

## په وزارتونو او ولایاتو پوري اړوند

1. ارشاد اسلام ورځپاڼه
2. یا حق
3. انیس اونېزه
4. سباوون مجله
5. هنر مجله
6. طلوع افغان
7. کندهار مجله

8. درستي مجله
9. روشنك مجله
11. بدخشان ورځپانه
11. اتحاد بغلان ورځپانه
12. پيام حق ورځپانه
13. جوزجان ورځپانه
14. ننګارهور ورځپانه
15. بهداشت عمومي دري مياشتنۍ
16. علومو اكاډمي اونيزه
17. افغانستان استنډرډ
18. رسالة الحق مجله
19. افغانستان (انګليسي) دري مياشتنۍ
21. اريانا مجله دري مياشتنۍ
21. ننګرهار اونيزه
22. آواز په اونۍ کي دوه ځله
23. رڼا مياشتنۍ مجله
24. معادن وصنايع دري مياشتنۍ
25. مير من مياشتنۍ مجله
26. كرانه مياشتنۍ رساله
27. جغرافيه مياشتنۍ رساله
28. كابل مياشتنۍ مجله
29. ګوارش اونيزه

31. هرات مياشتنۍ
31. هلمند او نيزه
32. حقيقت سر باز په اونۍ کي دري خٔله
33. پيام حق مجله مياشتنۍ
34. ژوندون مجله
35. پامير اونيزه
36. زري او نيزه
37. سمنګان او نيزه
38. ستاره او نيزه
39. سيستان اونيزه
41. اردو په مياشت کي دري خٔله
41. سراميشت مياشتنۍ
42. کورني ژوند مياشتنۍ
43. هيواد مياشتنۍ
44. ښوونه او روزنه مياشتنۍ
45. شپه او نيزه

## خپرندويه مو سسي

1. مو سسه نشر کتاب
2. دښووني مطبوعي
3. دولتي مطبوعي
4. سازمان انتشاراتي دولت
5. افغان کتاب

6. دافغانستان دتاریخ انجمن
7. موسیسه جغرافي
8. پښتو اکاډمي
9. دکابل پوهنتون خپرونه

# دمقاومت اړخ رسنۍ

**په حزب اسلامي ((حکمتیار)) پورې اړوند**

1. جوانان مسلمان
2. شهادت اخبار په پېښور کې
3. البدر اخبار په هالنډ کې
4. شفق اخبار په پېښور کې
5. شفق مجله په پېښور کې
6. الموقف عربي مجله
7. هجرت اردو مجله
8. الموقف انګلیسي مجله
9. الجهاد عربي مجله
11. امید دري مجله
11. امید دري اخبار
12. مجاهدین انګلیسي مجله
13. زن مسلمان دري پښتو مجله دښځو لپاره
14. المومنات (( دښځو اسلامي انجمن ))
15. شهادت جوانان دري مجله
16. سیمای شهید مجله
17. افق اخبار
18. شاهد عربي مجله
19. آزاد ورځنۍ اخبار
21. عملي وینا دتنظیم محصلین ورځنۍ نشریه

21. الصبح عربي

22. البیان پښتو مجله

## په جمعیت اسلامي پوري اړ وند

1. مشعل اردو
2. میثاق خون
3. عاشورا نشریه (شوراي نظار)
4. مجا هد مجله
5. پیام زن مجله
6. دا نشجو اخبار
7. پیام بلخ مجله
8. لواي حق مجله
9. تو حید سنګر اخبار
11. افغان نیوز

## په حرکت انقلاب اسلامي ((محمدي ))پوري اړ وند

1. بشارت مجله
2. جهاد ریز
3. بصیرت (( مولوي منصور))
4. ار مان مجاهد (( مولوي مؤذن ))
5. نصرت عربي میاشتنۍ مجله(( مولوي مؤذن))
6. حقیقة الاسلام(( جمعیت طلبه حرکت ))

## په اتحاد اسلامي مجاهدین پوري اړ وند

1. البنیان مرصوص عربي مجله

2. پیغام شهید

3. جهاد راستین

4. وحدت اسلامي

5. حق با خون

6. اتحاد اسلامي

7. پیام مجاهد

8. پیام حق

9. النفیر العالم

## په حزب اسلامي ((خالص)) پوري اړوند

1. دجهاد هنداره

2. منبع الجهاد

3. النور

## په محاذملي پور اړوند

1. محاذ مجله

2. محاذ اردو مجله

3. محاذ عربي

4. پیام هرات

## په حرکت اسلامي(( محسني)) پوري اړوند

1. ندای حق

2. پیام جهاد

3. استقامت

## په نجات ملي پوري اړ وند

1. نجات مجله
2. نجات انګلیسي
3. الانتقاد (عربي)
4. ندای جندالله
5. راستګویان
6. جبهه حق
7. جبهه جهاد

## په جمعیت العلما ((صاحبزاده ذاکري)) پوري اړ وند

1. ارشاد

## د پېښور په عبوري حکومت پوري اړ وند

1. عدالت په عدليې وزارت پوري اړوند
2. ارشاد نشریه دارشاد وزارت اړ وند
3. تنویر دار شاد وزارت اړ وند
4. افغانستان دنړۍ په راديوګانوکي ارشاد وزارت
5. روغتیا په صحت وزارت پوري اړ وند
6. افغانستان دنړۍ په مطبوعاتو کي
7. اردو دملي دفاع وزارت اړوند

## په حزب وحدت پوري اړوند

1. پیك
2. بولتن خبري
3. وحدت اونیزه
4. بشارت

5. حبل الله
6. میثاق وحدت

## متفرقات

1. خراسان افغانان شمال په کلفورنیا کي
2. دعوت مربوط مولوي جمیل ارحمن
3. افغان جهاد دجهاد ثقافتي شورا
4. دښوونکي پیغام «اي ار سي»
5. الفتوي دحنفي علماؤ ټولنه
6. عروة الوثقي دجمعیت العلما ټولنه
7. قسط دمحمد امین فروتن په ډله پوري اړوند
8. قسط دمحمد امین فروتن له ډلي څخه دبیل سوي اړخ خپرونه
9. بصیرت عبدالاحد تارشي
11. پیام ازادي ګروه آزادي
11. کوثر دمحمدامین فروتن ډله
12. کوثر له فروتن ډلي څخه دبېلو سوو فرهنګیانو اړوند خپرونه
13. افغان ملت په افغان ولسواك ګوندپوري اړوند
14. الشبان عربي نامعلومه ډله
15. مصباح دازادۍ ډله
16. فلق دازادۍ اسلامي ډله
17. حکومت اسلامي په انجنیراحمد شاه احمدزي پوري اړ وند

18 مقاوموت په امریکا کي دافغان دموکرات گوند لخوا
19 مجاهد اولس په محمد حسن ولس مل پوري اړوند
21 استقلال په جبهه متحد اسلامي افغانستان پوري اړ وند
21 دوروری منشور نا معلوم
22 الفتح حزب الله
23 الوحدة اسلامي

## راډیویي او تلویزیوني خپروني

1. ملي راډیو کابل
2. ملي تلویزین کابل
3. سیمیز ولایتي راډیو ستېشنونه
4. سیمیز ولایتي تلویزیون ستېشنونه
5. شمشاد دستگاه افغان ـ شوروي نړیوال تلویزیون
6. امریکا ږغ
7. بي بي سي انگلستان ((لندن))
8. دوچویل المان
9. مسکو ږغ روسیه
11. الانډیا پښتو ډیلی
11. ازاد افغانستان پېښور
12. امواج کوتا ملي دفاع وزارت کابل په اضطراري حالاتو کي

د کمونیزم تر سقوط وروسته

دروسانو تر وتلو او ډاکټر نجیب الله د نظام تر سقوط وروسته ،

سره تر دي چې د مجاهدينو په نوم حکومت را منځته سو ولي په نظامي برخو کي د پخوانيو کمونيستو نظاميانو شتون بحران ته لاره هواره کوه، ځکه نو دادوره په بشپړ ډول د مجاهديني دوره نه بلکي، ډيرى سياسيونو د ائتلافي دورې په نامه يادوله.

تقريباً په ياده څلور کلنه دوره کي هم د متخاصمو خواوو تر منځ پروپاګنديز شعارونه پورته د لنډغر، توپکي، شمال ټلواله، لار نيونکي، لجوجان، ياغيان، مباح الدم، واجب القتل او ... القاب د هغو همسنګرو تر منځ و کاريدل چي دسره کمونيزم په مقابل کي همسنګره سره پاته سوي وه.

د پروفيسو حضرت صبغة الله مجددي د دوه مياشتني حکومت په لمړۍ ورځ د دکابل راډيو څپو څخه د اسلامي انقلاب زمزمه د شهيد

احمد شاه حیدر په زړه وړونکي بږغ کي خپور سو:

مـــات ســـو انقـــلاب
پـــر افغـــان دخلـــق
تېرســـو پـــر خلګـــو
تـــور دوران دخلـــق
کامیابـــه چـــي ســـول
پـــاک مجاهـــدین
جنـګ یـې کـي اعـلان
داســـلام پـــر دیـــن
اور تـــې واچـــول
بیرغـــان دخلـــق
کامیابـــه چـــي ســـول
دا دهـــري خلقیـــان
وران یـې کـي پـه زور
ګـــران افغانســـتان
ظلـــم ســـو رســـوا
پرجهـــان دخلـــق

پـه دې دوره کـي داخلـي جنـګ هـر څـه وران کـړل، یـوازي هغـه امکانـات چـي حکومـت پـه لـاس کـي درلـودل پـه محـدود چوکـاټ کـي یـې پـه صـوتي ، تصـویري، چـاپي برخـو کـي نشـرات وکـړل ، ددې ترڅنـګ د حکومـت داپوزیسـیون برخـه چـي د حکومـت صـدارت عظمـي هـم پـه

پکښې شامله وه په څهار اسباب کې د اسلامي تلويزيون خپروني چې اوس د بريا تلويزين په نوم فعاليت لري د نورو چاپي رسنيو تر څنګ نشرولې.

**د مجاهدينو د دورې ملي سرود**

د وخت حاکم نظام نورو کمونيستي نورمونو سره سم د کمونيستي دورې سرود هم لغوه او په عوض يې د «قلب آسيا» په نوم لاندې سرود خپور کړ:

قلب آسيا

جاويدان ازاد خاک آريا

زادگاه قهرمانان بزرگ

سنگر رزمنده مردان خدا

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

تيغ ايمانش به ميدان جهاد

بند استبداد را از هم گسست

ملت ازاده افغانستان

در جهان زنجير محکومان شکست

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

هر خط قران نظام ما بود

پرچم ايمان به بام ما بود

هم صدا و هم نوا با هم روان

وحدت ملی مرام مابود

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

شاد زی ازاد زی اباد زی

ای وطن در نور قانون خدا
مشعل آزادگی را بر فراز
مردم سر گشته را شو رهنما
الله اکبر الله اکبر الله اکبر

نوې څپه

د مخکنـــي حکومـــت دســـقوط او د طالبـــانو د اســـلامي امـــارت پـــه منځتـه راتـګ سـره پـه فرهنګـي لحـاظ يـوازي د هيـواد پـه داخـل کـي هغـه ارګانونـه پـه نشـراتي ډول فعـال سـول چـي د طالبـانو د نظـام پـه حاکميـت کـي را تلـل ددې تـر څنـګ Handicap international پـه نـوم ځينـو موسيسـاتو هـم د خپلـو نشـراتو پـه پـار مياشـتنۍ او مهـالنۍ چـاپي رسـنيو فعاليت درلود.

پـه دا دوره کـي کـي لـه القـابو او پروپاګنـډونو تـه نـوی اصـطلاحات غوره او د توپکي، شر اوفساد کلمې واکريدلې.

ددې تـر څنـګ د طالبـانو د لمـړۍ دورې پـر مهـال ټـولي ترانـي او شـعرونه چـي لـه افغـانو داخلـي ميـډياوو خپريـدلې پـر حماسـي، ياءسـي او ملي نورم خپريونکي وې.

چي ځيني مشهوري ترانې يې په لاندي ډول دي:

د اوطـــــن زيبـــا وطــــــن
دا دی آريانــــــــا وطـــــــــن
ســـــاتو يـــــې پـــــه ســـــرووينو
دا زمـــــــوږ ليلـــــا وطــــــن
داده داحمدشـــــــاه بابـــــــا
داده دميـــــرويس خـــان کـــوردی

هم دمحمود غزنوي

داده هر افغان کوردی

داوطن زیبا وطن

دا دی آریانا وطن

ساتو یې په سروونو

دا زموږ لیلا وطن

تاکه انګریزانو ته

ورکړه فولادي سوکان

بیا دي پر روسانو هم

تنګ کئ دا خیالي جهان

داوطن زیبا وطن

دا دی آریانا وطن

ساتو یې په سروونو

دا زموږ لیلا وطن

تاکه فرعونانو ته

ځان کئ رود نیل معلوم

هم ابو جهلانو ته

سوې عمر کامل معلوم

داوطن زیبا وطن

دا دی آریانا وطن

ساتو یې په سروونو

دا زموږ لیلا وطن

دنګو دنګ غرونو کې

شاوخوا بازان وینم

وار خطـــا پـــه ډار کـــي يـــې
ســـتر ســـتر ښـــاماران ويـــنم
داوطـــــن زيبـــا وطـــــن
دا دی آريانـــــا وطـــــن
ســـاتو يـــې پـــه ســـروونو
دا زمــــورږ ليلـــا وطـــــن

لکه دا چي :

دعـــدل محکمـــې مظلومـــان راټولـــوم
لـــخ ســـري ببرســـري يتيمـــان راټولـــوم

او لکه داسي :

کـــوردي مولـــا وران طالبـــان پـــه توپـــو مـــه ولـــه
خـداى دي ســتر ګي پـوچي کـړه غازيـان پـه توپـو مـه ولـه
ولـــي پـــر مظلـــوم ملـــت ناترســـه بمبـــارۍ کـــوې
روس نـــه ســـبق واخلـــه افغانـــان پـــه توپـــو مـــه ولـــه
غـــواړي شـــريعت محمـــد د اســـماني نظـــام
کلـــه پـــه دنيـــا کـــي لـــه دې ډلـــي چـــا بـــرى وړئ
داده دزړه تـــوتې دعلـــي خـــان پـــه توپـــو مـــه ولـــه

دا مهـال طالبـانو هـم د خپـل حکومـت دملـي هويـت د پلـي کولـو او افغانســـتان داراضـــي دتثبيـــت لپـــاره ملـــي ســـرود غـــوره او دشـــريعت ږغ (افغانستان ملی) را ډيو له لخوا خپور سو.

د هيـواد پـه سـطحه ټـول ملـي راديـويي سټيشـنونه د «شـريعت ږغ

» پــه نــوم مســـمی او دامـــارت د امرمـــانونو او اهـــدافو د پلـــي کولـــو لپـــاره د «شـريعت» پـه نـوم داخبـار تـر څنـګ «خلافـت مجلـه» تاسـيس سـوه چـي پـه ملـي ژبـو «پښـتو او دري »يـې نشـرات درلـودل . ددې تـر څنـګ پـه اردو ژبــه هــم د «ضـرب مـومن» پــه نــوم اخبــار تــر نشــر لانــدي ونيــول ســو، دويالايـاتو پـه سـطحه هـم د هغـه وخـت د حکومـت دپاليسـۍ پـه نظـر کـي نيونــه ســره ځينــي مهــالنۍ چــاپې رســنۍ پــه ځنــو ولايــاتو کــي تــر چــاپ لانـدي ونيـول سـوې چـي پـه فرهنګـي او دينـي برخـو کـي بـه يـې ادبـي ټـوټې، شــعرونه، خبرونــه، شــرعي پوښــتني د هغــوي جوابونــه او نــور اعتقــادي، دينــي، فقهـي او علمـي مـواد خپـرول دهغـوی لـه جملـې يـوه رسـنۍ هـم پـه کنــدهار کــي د «ارغنــد» پــه نــوم مهــالنۍ وه ، چــي داطلاعــاتو فرهنــګ لــه لوري خپريدله.

د اســـلامي امـــارت پـــه دوره کـــي پـــر ټولـــو موســـيقکارو او تصـــويري رسنيو بنديز د هغه وخت دپاليسي سره برابر د تطبيق وړ وو.

دا مهـــال پـــه هيـــواد کـــي نـــوو اصـــطلاحاتو شـــعاري اصـــطلاحاتو بڼـــه خپله کړه، وحتشګر، دهشتګر،شر او فساد او ازارايان وراضافه سول.

د طالبانو د دورې ملي سرود

ساتو يې په سرو وينو

داده دشهيدانو کور

دا ده باتورانو کور

داده باتورانو کور

ستا کاڼي او بوټې ټول مونږه ته لالونه دي

ستا کاڼي او بوټې ټول مونږه ته لالونه دي

ستا کاڼي او بوټې ټول مونږه ته لالونه دي

وینه پرې توی سوې ده سره لکه ګلونه دي
وینه پرې توی سوې ده سره لکه ګلونه دي
وینه پرې توی سوې ده سره لکه ګلونه دي
کله یې څوک نیولای سي داده دزمریانو کور
دا ده باتورانو کور
داده باتورانو کور
تابه تل آزاد ساتو څو چي وي ژوندون زموږ
ستا تاریخ به یاد ساتو څو وي ژوندون زموږ
دي کي به بازان اوسي دادی بازانو کور
دا ده باتورانو کور
داده باتورانو کور
اې ګرانه وطن زما جارسمه له تانه زه
اې ښایسته چمن زما جار سمه له تانه زه
خلاص سو له روسانو مو سو دانګریزانو ګور
دا ده باتورانو کور
داده باتورانو کور
ډیری ککرۍ ګوره پاته دروسانو سوې
شنډي دهر یو دښمن واړه ارزوګاني سوې
هر چاته معلوم سولو داده افغانانو کور
دا ده باتورانو کور
داده باتورانو کور
دا ده باتورانو کور
داده باتورانو کور
دا ده باتورانو کور

داده باتورانو کور

د دموکراسۍ دوره

یوازي دولتي رسنۍ چي د امارت په چوکات کي يې فعاليت کاوه فعالي وي، کله چي د۱۳۸۱ ل کال د ميزان پر ۱۷ نيټه د امريکا د متحده ایالاتو په مشري د ناټو تړون پر افغانستان خپل رسمي يرغل را پيل کړي. په ټولو هغو تاسيساتو «هوايي ډګرونو، نظامي مراکزو، PRT ګانو» کي د FM يالنډ موجه څپو راډيو ګانو تر څنګ له طيارو څخه د کاغذي کاريکاتورونو او منسوخ سوي اسماني کتاب انجيل ځيني اياتونه چي پر فلزي ټکيو نقش سوي وه خپاره سول.

د دموکراسۍ ددې دورې په شل کلن پړاو کي د رسنيو تعداد له کنتروله ووت ، په داخلي او خارجي سطحه، په خصوصي او رسمي سطحه دومره څه خپاره سوه چي اټکل يې نه کيدئ.

د صوتي، ږغيزو ، تصويري او چاپي رسنيو تر څنګ فيس بوک، انسټاګرام، ټويټر، وټساپ او ... نوي تبليغاتي سايل را منځته سول، حتى يو نفر به په مختلفو جعلي نومونو لسګونه آيډياني جوړي او د خپلو اهدافو له پاره وکارولي.

په هيواد کي په رسمي بڼه رسنيو ته جواز ورکول کېدئ، خو تر دې زياتي رسنۍ وې چي د حکومت بې مجوزه يې فعاليت درلود. د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ۱۳۹۷ ل کال د ميزان مياشتي د حوالې له درکه د دموکراسۍ په برخه کي مجموعا«۲۳۴۳» رسنيو جواز اخيستئ و.

| شمیره | ولایت | پرسنیو تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | اروزگان | ۲ |
| ۲ | بادغیس | ۹ |
| ۳ | بامیان | ۲۰ |
| ۴ | بدخشان | ۲۳ |
| ۵ | بغلان | ۲۷ |
| ۶ | بلخ | ۱۹۸ |
| ۷ | پروان | ۱۲ |
| ۸ | پکتیا | ۱۷ |
| ۹ | پکتیکا | ۴ |
| ۱۰ | پنجشیر | ۵ |
| ۱۱ | تخار | ۳۰ |
| ۱۲ | جوزجان | ۱۲ |
| ۱۳ | خوست | ۲۵ |
| ۱۴ | دایکندي | ۹ |
| ۱۵ | زابل | ۵ |
| ۱۶ | سرپل | ۱۰ |
| ۱۷ | غزني | ۳۰ |
| ۱۸ | غور | ۲۴ |
| ۱۹ | فاریاب | ۲۴ |
| ۲۰ | فراه | ۳۹ |
| ۲۱ | کندوز | ۲۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | کندهار | ۳۵ |
| ۲۳ | کابل | ۱۲۸۱ |
| ۲۴ | کاپیسا | ۹ |
| ۲۵ | کنړ | ۱۰ |
| ۲۶ | لغمان | ۱۰ |
| ۲۷ | لوګر | ٦ |
| ۲۸ | میدان وردګ | ٦ |
| ۲۹ | ننګرهار | ۵۰ |
| ۳۰ | نیمروز | ۸ |
| ۳۱ | هرات | ۱۴۲ |
| ۲۲ | هلمند | ۱۱ |

د دموکراسۍ د دورې ملي سرود:

دا وطــــن افغانســـتان دی
دا عـــزت دهــر افغـــان دی
کـــور دســولي کـــور دتـــوري
هر بچـــی یـــې قهرمـــان دی
دا وطـــن دټولــو کـــور دی
د بلوڅـو دازبکـو دپښـتون او هــزاره وو
دترکمنـــــو دتــــــاجکو
ورســــره عـــرب ګـــوجر دي
پامیریـــــان نورســــــتانیان
براهــــوي دي قزلبـــــاش دي
هـــم ایمـــاق هــم پشـــه یـــان

دا هیـــواد بـــه تـــل ځلیــــږي
لکـــه لمـــر پـــر شـــنه اســـمان
پـــه ســـینه کـــي داســـیا بـــه
لکـــــه زړه وي جاویـــــــدان
نـــوم د حـــق مـــو دی رهبـــر
وایـــــو اللـــــه اکبـــــــر
وایـــــو اللـــــه اکبـــــــر
وایو الله اکبر

د دموکراسۍ پـه دوره کـي هـر څـه لـه کنترولـه ووتـل سـره تـر دې چـي د دموکراسۍ اصطلاح د خلګـو لـه خـوا پـر خلګـو د حکومـت کولـو پـه نامـه وه ولـي لـه دې موقـف څخـه پـه ګټـه اخیسـتنه سـره فرهنګـي اصـطلاحات او شـعاري کلمـات او احساسـات تـر داسـي حـده ورسـیدل پـه ښـکاره ډول د انسـاني او افغـان هویـت د سـپکاوي کلمـات بـې تحلیـه او بـې موجبـه دومـره سـول دښـو او بـد القـابو تـر مـنځ یـې تـوپیر پـه تمامـه معنـي لیـري کـړ. پـړ او نـاپړ پکښـي ورک او د دسیاسـي او فرهنګـي کـړیـو سـړیو تـر خپلـه وسـه خپلـه څـه کولـه، دلتـه هـم د تیـر غونـډي وړانـدي کېـدونکي مثـالي کلمـات سـاري پـه ډول یادولـای سـو، ټامیـان، خیاطـان، لنـډه غـر، او باشـان، سـونګریان، اربکیـان، سـیمیز ځواکونـه، وحشـتګر، دحشـتګر، مردم ګوسفندي او.. د یادوني وړ دي.

پایله

دې پـایلي تـه رسـیږو چـي دزمـاني مسـیر پـه طـی کولـو سـره هـر څـه نـوې بڼـه اخلـي او زاړه د قـدیمي غرصـو جسـمي او نرمـو معنـوي اثـارو رنـګ

اخلـي لـه تيـروه د زمـاني شـاليد تـر ښـنـګ د عبـرت اخيسـتني رنـګ او دنـوو په رڼا کي دمعاصري نړۍ سره همګامه تګ را ته روښانه کوي.

مـوږ دافغـان فرهنګـي بهيـر پـه لـړ کـي د فرهنګـي مسـير دلـاري لـوړي او ژوري تـر دې دمـه طـی کـړې او دا څـرک پـه لـاس راکـوي چـي راتلـونکي نسـلونه بـه زمـوږ ددې ډول کړنـو او انګيرونـو څخـه ښـه متـاثر او ددې فرهنګـي رنګـه بـه خپـل رنـګ واخلـي، پـه دې اسـاس چـي راتلـونکي نسـلونو مـو خپـل آئنـده روښـانه کـړې مـوږ اړيـو چـي ددوي لـه پـاره ددغـو القـابو، اصـطلاحاتو، رسـنيو او فرهنګـي پروسـې پـه لـړ لـه همـدا اوسـه ديـوې داسې پروسـې پـه لټـه کـي واوسـو چـي د خپـل شـرافت مندانـه ژوندانـه انځـور ددوی ذهنونـــو تـــه ســـپارلی، لـــه تيـــرو مـــودرس اخيســـتی وي ، دخپـــل فرهنګ، کلتور او ... ميراثي لړۍ له پورته مدارکو وپيژنو .

ادب او درنښت

ستاسي قران مل

کندهار

نـوټ: ددې کتـاب مسـوده پـه ۱۳۹۴ ل کـال بشـپړه سـوې وه، خـو دبيـا ځلـي کتنـي لـه پـاره دادی ستاسـو لاسـونو تـر چـاپ وروسـته رسـيږي.

درانه اوسئ

---

ii حبيبي عبدالحی

iii رفيع.حبيب الله ژوندی مرکه